چونغر

سلیمان لایق

چونغر

سلیمان لایق

د فغانستان د علومو اکادیمي

د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز

پښتو ټولنه

دوهم چاپ

۱۳٦۱

نا پایه چونغر

انسان دخه لپاره د طبیعت په پېچلې هستي کې دا ستوما نوونکي مزلونه لنډوي. دخه شي په لټه کې دی او ولي له پر له پسې منډو او هلو ځلو څخه لاس نه اخلي ؟

ژوند او په سړي کې د دوام یوه نا پایه تنده ، د هستېدو یوه مقدسه لمبه ، په نړۍ کې د ټولو رنګونو او آوازونو دهستېدو لپاره کار کوي،تر څو زموږ په کوچنۍ سیاره کې د پېروونو دسترې هستي او تر هغو د را چا پېر شوي ما حول غوښتنې او د نظم او توازن سنفوني پر مخ بوزي او هغه څه ته چې موږ لا سم نه پې پوهېږو کمال او جمال ورکړي .

د کوچني انسان منډې او هلې ځلې د سترې هستۍ د رشد او تکامل د رضابخشونکې جبر د ژوند ناموس دی. سړی نشي درېدلای او طبیعت نشي درېدلای.

د انسان تکل او تفکر، دهغه منډه او چیغه دستر او نا پایه طبیعت د دوام د ضرورت یوه برخه ده. دی ځان دهستوونکې په مقام کې ویني، نګېري په ځان کې نه ځاییږي او لکه طبیعت نا پایه دی، رنګونه او عطرونه، آوازونه او پروازونه او هره هغه ښکلې جلوه چې د طبیعت په اجزاوو کې ځپې وهي، له ده څخه را زېږي او په ده کې ختمېږي، خو واقعیت داسي نه دی کومه منډه چې پیل شوې ده پای نلري. هیڅ برېښنا، هیڅ تالنده او هیڅ حرکت نه ختمېږي، یوا ځي خپله بڼه اړوي او په نوې بڼه او لا نوې بڼه کې ابدي جریان مومي.

د یوه کوچني اور اورکي چونجي دوزرونو رڼا او دګل پر پاڼه دیوې پرخې د ځاځکې ځلا پای او انجام نلري. بلکې د هستۍ په لویه غېږه کې له یوې جلوې څخه بلې ته او له بلې نه بلې ته ځای بدلوي او د ترکیب او تجزیې په ضروري خلود کې د ابدیت پر نا پایه واټ باندې لار وهي او د بې انجامه مقصد خواته ور ځغلي.

هغه تاو او تودوخه چې په ما کې دچونغر کوډګرو جلوو را پیدا کړې ده، د همدې ابدي جبري تکل او ددې نه تمامېدونکي ترکیب او تجزیې د بهیر دپر له پسې څپو د لایتناهي ځاځکو یو واحد فرد دی. داسي فرد چې کله لکه اوښکه د غمونو او دردونو راز سپړي او کله لکه شبنم د ګلپاڼو په رنګینه غېږ کې رغړي.

چونغر ځاځکی دی خو لکه زه، لکه انسان نا پایه دی. هغه به ترکلونو کلونو زموږ دشېبې رنګونه او عطرونه د مستقبلونو له را غوړېدونکو رنګونو او عطرونو سره ترکیبوي او نن ته به په سبا کې دوام ورکوي.

سلیمان لایق

۱۳۶۱ر۵ر۲۵

د زړه آواز

زما وطنه

اې زمـــــا ښـــکلي وطنه زمـــــا تنه
زما کوره ، زما گوره ، زما عــــدنه
چې نارام شم ته مې وياړې ، ته مې نازې
ستا زانــــگو د باباغېږ د مـــور لمنه
زما په ډډو دگلانـــــو پا لنگ لگي
که هر څومـــره د ستا خاوره شي اغزنه
په درو کې ، په سيندو کې ، په رغو کې
په هر گام کې دې د ژوند سندره پلنه
هره تيږه دې له شـور او زوره ډکه
د فــــرنگ د يرغــــلو دندان شکنه
ستا په ښنو کې سپېلنی شم وياړنی شم
اې زمــــــا ښـــکلی وطنه ، زما تنه !!!

د پښتو کوره

اې د اشيا تاجه د لرغونو عظمتو کوره
گران افغانستانه، د زړه سره، د پښتو کـــوره
مينه دې خوځېږي زما په شعر کې څپې څپې
اې د لوړو غرونو او سيندونو او درو کـــوره
ستا په طبيعت کې ، طبيعت هم رزمي شوى دى
اې د سېلاوونو او واورينو توفـانو کـوره
هره لوېشته خاورې دې کتاب کتاب خبرې دي
اې د روايـــــاتو، مذهبو او ترانــــو کوره
ښـــاد دې يې، آزاد دې يې، ودان دې يې!
کور دامنيت دې يې ، کعبه دهر افغـــــان دې يې !

زلمي ته

راوزه، له دردو او ارمـــــانو سره راوزه
له عـــلم او له کتاب او له فکرو سره راوزه

له گوټ دا نزوا نه چې کلونه پکې ناست وې
د ژونـــــد د حقیقت له فلسفو سره راوزه

فرصت د ځغلېـــدو بیا زمانې درته درکړی
میـــدان د امتحان ته له جلـــوو سره راوزه

غـــــورځونه له زړو زړو خبرو ستړي شوي
له نویو مضمــــونو او ترانـــــو سره راوزه

ددې ښــــکلي وطن دنیمـــگړتیاوو تلافي ته
له عشق او له وفـــــا او نهضتــو سره راوزه

اې ځـــــوانه اې افغـانه اې دعصر رازداره
له بشپړ حـــــرارت او له لمبـــــو سره راوزه

د ملګرو کاروان

په په مشرق کې بيا روان دی توفان ورو ورو
ځکه خوځي مې په زړه کې ارمان ورو ورو
د افغـــان دوحدت سېــــل راروان شوی
پرې ډوبېــــږي وطني پرنــګيان ورو ورو
د ژونـــــد باد له ابا سينه راخوځېـــږي
خوځوي د بــاغ د حورو زلفان ورو رورو
بيــا په زړه د هنــــدو کش کې اور بلېږي
ترې تاوېـــږي دوطن پتنـــګان ورو ورو
نه پوهېــــږم زمانه په څه تدبيـــــر ده
چې را باسي له رمې نه لېـــوان ورو ورو
له نــاوې د آبا سيـــن تر آمـــــو سينه
راغوړېـــږي زما د هيلو ګـلان ورو ورو
دا ويـــران ويجـــاړ وطن به ګلستان شي
چې پې اوري زما داوښـکو باران ورو ورو
زړه مې ځــکه دوصـــال له ميو مست دی
چې ځوځېږي د ملـګرو کارول ن ورو ورو
د «لايق» د سينې تـــاو به بهـــــر نشي
څو پاخه شي دغه نوي ځـــوانان ورو ورو

د خولو باران

ژړوي مې تېر یادونه د شباب
زه که څه یمه د غرونو ځیږ افغان
یو ځل دومره مهلت را کړه چې اوبه کړم
ستا د شونډو په شربت تږی ارمان
پرېږده پرېږده چې راوسپړي گلونه
دا تېره تېره اغزي د بیابان
که لا سونه د باغوان وای خو ځېدلي
لا په خوابه دابېدیا وه گلستان
هره لوښته یې د میني منزلگاه وه
داوطن چې اوس لوخ شوی په دا شان
هره تیږه د وطن بچو ته ژاړي
خو افسوس چې څوک یې نه اوري فغان
دلړمو او مارانو په ځای پرېږده
پرې خواره شي سندر غاړې بلبلان
هره څنډه به یې رشک د فردوس شي
که پې سم شي د خولو گرم باران

د پسرلي دېوې

دا اورونه په بېــــديا وو کې بلېـږي
که د سرو گلو غوټۍ دي چې غوړېږي؟
د خــــاټولو قافــــلې دي راروانې
که د سرو ميـــو پيالې وېشلې کېږي؟
نوي نوي قــــوتونه، آرزو گـــانې
په رگــو د بزگـــرانو کې نڅيږي
ځوانه گوره چې فرصت درنه لاړ نشي
زمــــانه انتظار نه باسي تېرېږي
د وطن فضـــا هوا او د بنتې غرونه
د زلمـــــولـه ارمانو ســره سمېږي
زمـــانه به پرده پورته کړي له کاره
د زاهـد زړگی که چوي که ويلېږي
چې په سر کې يې هوس د مستي نه وي
هغه کـــام نه پورته کېږي، نه رغېږي
پسرلی به نـــوي زېـري راوړي
چې د فکـــــر مسيحا پکې خوځېږي

دپنجشېرباز

خـــومره زړوردی دا دغـــرونو د پنجشېرباز
زړه له زمـــري باسي په منـــگولو دا سرتېرباز
ما دخنـــج[1] د پا سه په ډبـــروکې ليد لی دی
يوه رپ کې د ستـــرگو، له نطره شي بيا تېرباز
زور يې دسېلاب ، منډه برېښنا ، حمله يې تندر ده
ستر مظهـــر دخلکـــو دقدرت دی دغه هېر باز
ژرنده دآسمان يې که د سر په کـــاسه وگرزي
تيټ به نشي چـــاته دا مغـــرور دغه دلېر باز

١ ــ په پنجشېر کې يوه دره ده .

دکباب بوی

زړه مې په دردو کې بنـــــا کړی پیــــچ و تاب
نه پو هېـــږم اور دی، که جنـــون، که ا نقــلاب
اوري له قلـــــمه مې دردونه په خبــــــــرو کې
ووایه ناصحه څنــــګه بند کـــــړم دا حساب
ورانه میخـــا نه کـــړې نه پو هېږم څه پې شوي دي
ولي پـــــکې نشته نه ســــاقي او نه خــراب
نه دلته په جوش او په مستۍ کې څوک نڅا کوي
نه پکې مطـــــرب شته نه مــــــلګري نه ربا ب
نه هغه صــــــوفي شته چې صفا د بایزیـــــد لري
نه هغه شیطــــــا ن شته چې آدم یې که خـــراب
لارې د مسجـــــد او میخــــا نې دواړه تړلې دي
نشته دی تو فیــــــق نه دثـــواب نه د عـــذاب
نه په دې چمن کې یو شین ډ کـــــی د ګیـــــا وینم
نه په دې بستان کې یو بلبــــــــل او یا ګــــلاب
زړونه یا سینې دي د حر مـــــا ن په لمبو سوې دي
بوی که چېرې جګ شي د وریت شوي یا کباب

پښتون زلمی ته

گرزه مــــــــلا تړلی له وســــلو سره
جـــــــار دې شم زلميه له پښتــــو سره
زړه د دښمنــــــانو دې لـــړزانده وي
ستــــــا د شجاعت له زلـــــزلو سره
خـــــــاوره د وطن بې ميـــو مسته ده
ستــــــا داحساساتو له څپـــو سره
زما قـــــــلم او ژبه د تر خـــاورو شي
سم که نشي ستــــــاله قد مـــو سره
پل کېږده چې ستـــر گې درته کېږدمه
زړه ســــره، له سر او له لېمـــو سره
فخر کوه خـــــانده چې در جار شمه
داوطن د تــــــادی لوړو غــــــرو سره
گرمه کړه گـــــــرمي دخپلوا کی پسې
اې د اور بخـــــــر کې له لمبـــو سره
باز که ستــــا په کور بې ځایه والوزي
وبه سوځي ځـــــــاله له بچـــو سره
جاردې شمه، جاردې شمه، جار دې شم
جـــــــار دې شم زلميه ، له پښتــو سره

زړورزړه

که لایق د خپـل هیواد وفادار نه وای
هسي رنگه به هېـر شوی او خوار نه وای

که مې زړه د زړورو په لارنه تـلای
هر طرف به پې د تورو گــوزار نه وای

که مې غږ د خلکو نه وای اوچت کړی
د تورونو په چپـــا و به آزا ر نه وای

شـــاعریۍ ته به مې لا س نه و ور وړی
که مې قـــا م سره د زړه ا ختیا ر نه وای

زمـــانې که زما درد وای ازمــویلی
هسي رنگه به سا کت او کـــرار نه وای

ما به ځله زړه نیوو د اور لمبـــــو ته
که له ژوند سره مې خیال د قمار نه وای

قافله

بې مطلبه بې مطـــــلوبه هره خوا وهي گـــــامونه
نه پوهېږم کـــــــوم پلو ځي دا زمـــوږه کاروانونه

په دې ګڼې قافـــــلې کې نه مجنون شته نه ليلا شته
چاته يوسو ارمــــــانونه ، چاته وژاړو غمــــونه

په دردو يــــــو اخته شوي ، نه طبيب شته نه دوا شته
څه بې ځــا يه کېږي لي دازمــــوږ زاړه دردونه

کاشکې نه واى يو ځاى شوى له دې ورانې قافلې زه
يا بدله واى دا ځمــــکه او يا نور واى دا کـــلونه

ويښ به نشي دغه قــــوم که نغمه شم سر تر پــا يه
که رباب غونــــدې گويا شي د لايق د زړه تـارونه

د خلکو بيرغ

د فکر په ټالـــــــونو کې زنګېــــږمه زنګېږم
د غم په دريابـــــــونو کې غرقېـــږمه غرقېږم
چې وينـــــــــو د بې دردو کې ونشوم لمبېدلی
په اوښــکو کې مې پرېږدي چې لمبېږمه لمبېږم
ناصحه زما لمبو ته غرض مه کړه غرض مه کړه
ما پرېږده پخپل اور کې چې سوځېږمه سوځېږم
آدم يم د درخو په لـــور بې واکه بې اختياره
روان يم په دې هيـــــله چې رسېـــږمه رسېږم
د قوم په دماغ کې چې کـــوم نوی توفان راشي
د شعر په جـــــامه کې زه نخېـــــږمه نخېږم
د خـــــلکو د قدرت په لاس لوېدلی يو بيرغ يم
د دوی په احساساتـــــو کې رپېــــږمه رپېږم
زه څه يم دا اولس دی چې هر لورې ته مې بيايي
د دوی تر ارادې لانـــــدې خوځېږمه خوځېږم

د عصر ساز

بیا ساقي راغلی ترخـــــو میو ته بلل کوي
اوریې په پیـــالو کې اچولی ازمویل کوي

سازنن بل آواز، بله نغمه، بله مـــــزه لري
عصر زېږولی د ذوقـــونو سمـــــول کوي

فصل د گلونو د اشیا په لــــوړو غرونو کې
غلی خو ځېدلی د کامـــونو خوځول کوي

خوند د زاهـــدانو له تقوا څخه وتلی دی
زهــد ریایي شو د زهـــادو شرمول کوي

دا بـــلاا نسان بیا په رگـــو د کائناتو کې
ورو ورو لگیا شوی د اسرارو لټول کوي

هیلې د وطن د ولسونو زمـــا په شعر کې
نویو ارمانو ته د فــــکرونو اړول کوي

ګیله منه مینه

په بهانو مې له خپـــــل ځانه شړي
چا ته ګيـــــله چـــاته ژړا وکړم

پخپـــــله سهو نه پوهېـــــږمه زه
د کــــــومې عفو ې تمنـــــا وکړم

نه مې مني او نه مې زړه را کــوي
چـــا ته شـــکوه ددې بـــــلا وکړم

لېـــونی زړه مې نه صبر پرېږي ورونو
چـــــا سره کېنمه ســـــــلا وکړم

رقيب زمــــــا د عمر غم خــوړلی
ژړا د نن که د سبـــــــا وکـــــــړم

اشنـــــا بېلېـــــږي ، زړه اشنا لټوي
عذر د زړه که دا شنـــــــــا وکړم

په دې بې درده دنيـــــا ګی کې ربه
له چـــــــا نه هيله د وفـــــا وکړم

ساقي ته

ساقي لاس وړه پیمـــانې ته چې ځنډ پرې
د زمــــان قــــافله درومي نه درېږي
څو چې ستــــر ګې وازوو بهار به نه وي
ځواني خوږ شاني یو خوب دی او تېرېږي
نه په عمـــــر څه بـــاور شته نه په حسن
څوک خبر دی چې سبا لمر به پې خېژي
خــــام حریف د خم مدار ته منتظر دی
بد مستي د تاک په پـــــانو کې نڅېږي
خوبان خوشي خپـل جمال ته غره شوي
د ګـــل پاڼه په یوه سېــــلۍ رژېږي
هغه لوښی چې کــلال د زمان جوړ کړي
خامخـــــا به د هغه په لاس متېــــږي
ساقي را کــــړه پیمانه پروایې مه کړه
ښه پوهېـــږې چې څه کېږي هغه کېږي
د زاهــــد دا کـــردې او جفـــا ګانې
تش په میـــــو عــــلا جېږي او هېـــرېږي
ژر مې مست کړه چې فضول عقل مې وژني
دا فضا مــــــا لره تنګه کېـــــږي

لنډ عمر

څو غوټۍ ورته خنـــــد لې بهار تېر شو
لا مسـکا يې کړې نه وه چې وار تېر شو
د شپږو د تېــــرېدو په هنـــــګامه کې
ژوندون ستر ګې خلاصولې قطار تېرشو
ما پيـــاله پورته کوله چې ځان تود کم
زه لا نه و مه تود شوي انــــګار تېر شو
رنځور زړه مې رغاوه د يار په ستـر ګو
د بريښنا په منــډه يار او بيمار تېر شو

عاشقانه تپوس

ما ویل په پښو مې درست جهان درپسې وغوښت
دې ویل آګا یم په دې دربدرو زه
ما ویل زخمي زړه به مې څوک دارو درمل کړي
دې ویل په ښکلو او خوږو خبرو زه
ما ویل درست عمر مې په داد او فریاد تېر شو
دې ویل پوهېږم په دې بې اثرو زه
ما وې په سینه دې دوه کوترې دې رپېږي
پرې مې زړه چې لو بم پې دې دوو کوترو زه
ورانه له خندا شوه وې یې: نه‌نه نه‌نه نه
څوکې به درنکړم ددې دوو وزرو زه
ما ویل که مړ شوم کوم نظر به مې ژوندی کړي
دې ویل په دغو دواړو جادو ګرو زه
ما وې رقیبانو را تریخ کړی زما کام دی
دې ویل چې خوږ بې کم په سرو شکرو زه
ما ویل زما په ګرېوان نشته مرغلرې
دې ویل جړاو بې کم په مرغلرو زه
دې وې ملایان زموږ په مینه خبر شوي
ما ویل خبر یم په دې بې خبرو زه
دې ویل په ښار کې وفادار ملګری نشته
ما ویل چې خیر دی د غرو کمرو زه

عشق دريا ب دی

بيا ليـــــــلا د چا پښو ته غـــــــوړولې سلسلې دي
چې نسيم له غـــــــرو را وړې دعنبرو قافـــلې دي

زړه مې پرېښوده فر ياد ته، بې فر يا ده زړه به څه کم؟
سر نوشت دعا شقـــــــا نو همدا سوې غلغـلې دي

بېـــګا خوب کې بې سببه ، له سپوږمۍ نه وبرېدمه
ګوندې بيا ديار په زړه کې پيدا شوې څه ګيـلې دي

په مستۍ کې ســـــاقي و وې: تشوئ يې تشوی يې
که څه شته دي په دنيـــــا کې دا د ميو قلقلې دي

بلبل وينې غورځـــــولې د ګـــــــــلانو پر اغزيو
پتنـګ وويل په اور کې: دا اولې مرحـــــلې دي

اې زما لېونی عشقه ځــلاند اوسه ، ژوندی اوسه
هر مشـــــکل دې لذتونه ، هر آفت دې حوصلې دي

عشق دريا ب لايق حباب دی په هر موج هره څپه کې
ټکـــرونه، تندرونه، محشرونه ، زلـــــزلې دي

د پښتو اجاره دار ته

د پښتو اجـــــاره داره، بیــــادې څه دام غوړولی
بیا دې کوم یو ایسار کړی، بیــــادې کوم یو کړولی
بیــــا په زړه کې چا ته گوا ښې، بیـــا دننه چا ته ا یشې
بیــــا دې څوک په ښښه کړی، بیا دې کوم یو نړولی
ته په خود یې که بې خود یې، دا په څه شي لوبې کا ندې
دغــــه ژبه د ملت ده ، نه د هـــــــــرې ښښې څلی
مه له ځا نه څه ترې باسه، مه له گیـــډې څه ور باسه
دا بنیــــاد دپښتنو دی، ډیر منــــــلی ډیر سپیڅلی
هر زلمي ته مه خرنډېږه، پخپـــــــل فکر مه تینگیږه
زمانه لــــکه سیلاب ده، وړي هر زوړ له کـــاره تللی

اې هيلو!

لړې شې اې هيـــــلو له مـــالرې شې
وتښتې، پردۍ شې، مـــــروړې شې

مه ژاړې زمــــــــا په دردو مه ژاړې
اې زمـــا غريب سترګـــــو ډبرې شې

اوښـــــکو زما له سترګو څخه والوزې
غـــاړو کې دنورو مرغـــــــلرې شې

اې زما دژونــــــد ترخو ترخو غمـــو
وخوځې شعرونه شې، خبــــــرې شې

اې دخـــــــلکو هيــلو زما په شعر کې
پورته شې آسمــــان ته لرو برې شې

تندر شې، برېښنا شې، سېلاوونه شې
تورې توږې وربځې شې، څپرې شې

اوښتی بخت

زړه مې په غمـــونو کې گـــډوډ بېتابي کوي
سېل مې له لېمو نه را روان دی خـــرابي کوي

هيله لېـــونۍ شوه، ړنگه بنـــگه بې جلبه ځي
نه منې خبـــرې مې پېښې د شــــرابي کوي

سامې ښکته پورته ځي، نغمې د سوزو سازو هي
ژونـــد نارامه کړې ده پېښې دربـــابي کوي

وســوله سينه مې د دردونو له گـــرمۍ شخه
لارترې ورکه شوې سوځـــول د کبابي کوي

لارې د سارا او د ځنــــگل دواړه ترلې دي
عقل گمــــرا شوی ادعـــا د نوابي کوي

زه لايق د هسي بدبختـۍ او جفــــا نه ومه
بخت په بله مخه اوښتـــلی خـــرابي کوي

د ژوند فکر

د گـــل خنـــداماته ژړا را ولي
سترگو ته شونـډې د اشنا راولي

د پروانې تـــرايرو وگـــــرزمه
چې بـــوی دمينې او وفـــا راولي

ســـاقي په مستو لبـــونيو کتو
مستان بې ميـــو په نخـــا راولي

د ميخـــانې داننـــــي دودونه
زلمــــــوته هيله دسبا راولي

نوي خيـــالونه هديرې ته زمونږ
دژوند لپـــــاره مسيحا راولي

دعاشقـــانو ژيړ او مات رنگونه
فرعـــون دمينې ته موسا راولي

لايق خپـل کام ته د ادب په ژبه
فـــکر دژوند او دبقـــا راولي

زهد شکن ښایست

ستا د حسن په سپېــــدو کې خوځېــــد لې زلزلې دي
د آسمـــــــان له سخته زړه نه پورته شوې ترانې دي

نه پوهېږم څه محشر دی ستا د ستر ګو په ګردش کې
چې یـــــا ران یې نېشه کړي بې د میــــو له پیالې دي

ستا د سرو ستر ګـــــو له تاوه کباب شوي لړمـونونه
دا لالونه که یاقوت دي، که سکـر وټې که لمبې دي

هر ښایست چې تجلی کړي زما په شعر او اندېښنو کې
ستا د تیــــو یا د ستر ګــــو یا د زلفو کرشمې دي

ستا له هسي جلوې جار شم چې زاهد یې په ملامات که
کړنګـــولي یې جامونه ، ننګـــــولې میخـــانې دي

څه به هڅه د طاعت کــړم ، څه به هیله د جنت کړم
ښه پوهېږم ستا په عشق کې تورې شویې خاتمې دي

لا یق دومــــــره ساده ندی چې دوصـــــل تمه دار شي
ستا دغېــــرې په ارمان کې ډکې شوې هـد یرې دي

وحشي طبعه

نه منت د خـــرابات وړي نه مننه د حــــرم کړي
څه وحشي طبعه لرمه چې له ټــولو څخه رم کړي

د ملـــګرو خامي هيلې هغه چارې په ما کـــاندي
چې تبې يې په غنــم کړي حرارت يې په شبنم کړي

زړه مې بس چې د يـــارانو ځان ځاني آزرده کړی
نه د چا په خندي خــاندي ، نه د چا په غمو غم کړي

د صحرا له سره شفق نه د جنـــون پيغـام رارسي
په آدم چې مينې وکـــړې هغه چارې په ما هم کړي

پريشان توفـــان خو ځېږي د درخــو د څڼو موج کې
را ته ښکاري دا سېلاب به زما د زړه خونه برهم کړي

ګوشمالي د حـــوادثو هغه چارې په ما کـــاندي
لکه ګوتې د مطـــرب چې د رباب په زير و بم کړي

ساقي مــړ کړم حسرتونو ، خاورې شويو ارمانونو
يوه ترخه پيمانه راکړه ګوندې وي چې څه مې تم کړي

دگلانو بستر

بيا مې ساقي وليد د خيالونو په خـــوبونو کې
بيا دجنت حورې راته نا څي په جــــامونو کې

زه د ســــــکند ر دآيينې څه گــــــدا نه يمه
زه هر څه ليدا ی شمه د ښـــکلو په مخونو کې

غـــرونه که لالونه شي طلا شي او زما شي بيا
نه ارزي پدې چې ځواني تېره کم غمونو کې

زه که مې پرست نه يم نو څه به شم او څه به يم
څه پسې به گرزم د مړې خورې په رگونو کې

زانگم د سپوږمۍ په تنا وو کې له جانان سره
خيـــال چې را سره شي د نېشې په جنتونو کې

کله چې د يـــار په سودا پرېوزمه ويده شمه
اوږم په گـــلونو کې را اوږم په گـــلونو کې

د اور جامونه

ستا په یاد چې پیمانه کړمــــــه او چته
ټول غمونه کې ښکاره شي جام جم شي

دعشق هـــره ترانه چې له مـــا وزي
د سرو وینـو په لار ځي د زړونو غـم شي

هـــر یو ګل ته چې د مینې مـــوسکا وکړم
لاغــوټۍ وي چې د بل سړي حـــرم شي

عشق د هـــر عشرت پرسته مقــام ندی
عـــاشق هغه چې د اور لمبــو ته تــم شي

زه د هجـــر دتوفـــــان یاغي مارغه یم
هـر یو تندر چې راکـــوز شي ما ته سم شي

دا زما تور سرنوشت ګـــوره په څه دی
څوک چې زړه ته رانیږدې کم په ما ګرم شي

نه به مـــــخ د مصیبت له مـــا نه واوړي
نه به جنـــګ له خپل تقـدیره زما کم شي

جګي جګي ســـا قي را د اور جامـــــو نه
ګونـــدې غم زما د زړه د ټول عالم شي

اندېښني

یا زما ستــــرګي ښـــکلا نه پېژني
یا په دې عصـــر کې ښـــکلا نشته

ساقي که هر څومره پیالې ګړنګوي
خـــو د یارانو اشتــــها نشته

پدې سړو سړو ذوقـــــو کې مګر
څاڅـــکی دمینې او وفـا نشته

یـــوائحې پــــاتي یم ژړا رائحي
په دغــــو خـــلکو کې اشنا نشته

تورې په تېـــکو کې زنـګنې شولې
توان د جهـاد او د غـــزا نشته

په دې نوکـــاره حریفانو کې هېڅ
فـــکر د ژوند او د بقــــا نشته

په دغـــو سوځنده لمبـو کې ربه
یوه ګــــوشه د انــــزوا نشته

گیله

زمـــــا دردونه که دوا نلـــــري
د تـــــا ښایست هم څه بقـــا نلري

د پېغلتوب په شرنګ مغروره مه شه
دا یوه برېښنـــــا ده او وفـا نلري

ما ته وعدې د نن سبـــــا مه کوه
عمـــــــر مهلت د نن سبـــــا نلري

ستر ګې چې ژاړي ګناهکارې ندي
د غــــــم چینې بله متـــــــا نلري

لېـــــــونی زړه مې وایه چــا ته بوزم
هغه بل لــــــوری بې له تـــا نلري

زمـــــا د صبر پیـــــا له ډکه شوله
د تا عــــــــذرونه انتهـــــــا نلري

د دردونو يار

آشنا ساقي شه چې خمـــار لرمه
د زړه په سر د غم غبـــــار لرمه

ما ته د حـــــزم نصيحت مه کوه
زه له خپل ژوند سره قمـــار لرمه

له اوره ډکې کړه پيــــالې د ميو
چې نن دســــــولو انتظـار لرمه

له وښيــــــــارانو تښتېدلی يمه
له لېـــونيو سرو کــــــار لرمه

ملا که وياړي د جنت په حورو
زه د دردونو افتخـــــــار لرمه

لکه ډېـــوه سوځم او ژوند کومه
کاروان د اوښکو سره لار لرمه

له دې نازکـــو خيــــالونو سره
د ګل په پـــاڼو کې مـــزار لرمه

مروره زړه

زړه مې ويلي كېږي له كــو گله ځي
نور دژونـــــدانه له دې مشله ځي

عصر بد هـــــوادى وفا نـــكوي
څه چې له مـــا ځي له دې كبله ځي

وا يي محتسب اختيــــار نشته دى
هر څه چې روان دي له ا زله ځي

وســـــوم د دردو له انتظار څخه
ميــــــل مې جنون ته كله كله ځي

وايي چې كوږ بار مزل ته نه رسي
دلته بې درنـــــگه تر مـــــزله ځي

زړه مې مــــرور دى له مــلگرو نه
هرې خـــوا ته تښتي له كـا بله ځي

ځان له جهان

په زمـــــا زه دې ښه پوهېـــــــږمه زه
بيـــــــا دې په دام کې نه بندېـــږمه زه

يو ځــــل چې والوتلـــــــم وا لوتمه
بيـــــا دې پهلـــــــوبه نه غولېږمه زه

په تزويرو دې را ستـــــــون کړی ومه
اوس په ځنځيـــــر کې نه تمبېـــږمه زه

بيـــــا په خـــوږو کې زهــر مه را کوه
اوس وښيـــــار شوی يم پوهېـــږمه زه

ځمه او ځـــــــان لره جهـــــان لټوم
ستــــا په جهـــــان کې نه اوسېږمه زه

که مې په زړه کې ستا تصوير وخوځي
د غـــــم په اور کې به يې سيـــــزمه زه

تېروتلی عشق

ډېر کـــــلونه تېر شول چې له تا نه جلا شوی يم
وړی اند ېښنـــــو يم مجسمه ســودا شوی يم

هر گل چې خنـــدلي يو ځل ما ورته ژړلي دي
هر اور ته پتنـــګ هرې غنچې ته بورا شوی يم

هر څو که زمـــــا گنـــــا له تا سره لا پټه ده
څه وکړم مگر چې خپل ضمير ته رسوا شوی يم

نورو که خنـــدلي خپل اقبال ته يې خندلي دي
زه خپـــلو غمو ته نا څاپي په خنـــدا شوی يم

بې تودوخې مجلس

زه د خپـــل زړه په دردونـــو نه پوهېږم
خلك خـــاندي خپل تقدير ته زه ژړېږم
په مجلس کې حــــرارت د پـرون نشته
هره ورځ چې نـــوې کېږي زه سړېږم
حريفــــان په چيغو چيغو تظـاهر کړي
ساقي خا نـدي په دې وزه زه شرمېږم
په مجلس کې چې د مينې مستي نه وي
په تش ميــــو نه گرمېـــږم نه مستېږم
ساقي جــــام او پيمانه دې ببرته واخله
زه گــــوشې د جومـــا تونو ته ستنېږم
هلته لري به يوه ځـــــانته ډېـوه بل کړم
پټ د ننه به په زړه کې ويـــلي کېـــږم
گونـــدې وي چې په گو شه دانزوا کې
يوې پا کې تمنــــا ته وخنـــــدېږم

لنډ ژوند

که لـــــوګی شي زما د ژوند بیخ و بنیاد
زړه به سوړ نشي ددې ښـــــکلي جــلاد

دا چې یار ما د هر ګـــــل عندلیب بولي
د غمـــــاز په خوله یې کـــــړی استناد

دا سنـــــد زما د وفــــا ندی نو څه دی
عشق مې سوځي او زه نه کـــوم فـــریاد

زما او یار ترمنځ چې سل پردې پرتې وي
د قبـــول غوږ ته به څنــــګه رسي داد؟

په ناکــــــامو لارو بوتلمه خامـــانو
په عبث کې رانه عمـــــــر شو بربـــاد

کاشکې دا بې خونده عمر مې بدل وای
په یوه رپ لـــــــکه برېښنا مګـــر آزاد

خاندي لبونی

خاندي لېونی چې په جنون کې به لا څه وي ؟
گوره چې دعشق په موج خون کې به لا څه وي ؟

مست چې د ساقي په يوه عتاب پیاله نسکوره کړه
خدا زده د زاهد په شبیخون کې به لا څه وي؟

خام په یوه جلوه د ترکو ناز بې سده کړی دی
گوره چې د مینې په ټرون کې به لا څه وي؟

موږ ته له زړو نه لا زاړه غمـــونه پاتې دي
خدازده چې دعصر نوي یون کې به لا څه وي؟

تــورې چې په سپینه ژبه سر دانسان لري که
گوره د اتوم په سره لړمــون کې به لا څه وي؟

سر زما د قــوم همېشه نورو ته خاورې شو
آیـــا چې په برخه د پښتون کې به لا څه وي؟

خوځې زلزلې بیا دنړۍ په تنـــا وونو کې
گوره چپاوونو د گـــردون کې به لا څه وي؟

دا کوچنې څاڅکې

څه کوي دا سره کوچنۍ وریځه له آسمـــان سره
څه غواړي ډومبسکی (۱) له موجـونو دتوفان سره

ولې دا مجبـــــــور بشر نـــــــارې دآزادۍ وهي
څه دي د لاس ماتي دمـــــړوند له امتحـــان سره

نه نه اې شاعره! ته وهمـــــونو غولـــــــولی یې
گوره چې لا څه کړي دا مجبور له این و آن سره

دا ماشوم ډومبسکی په وهمـــــونو کې اسیر ندی
دا بخـــــرکی وریځه سپـکه نده له آسمان سره

دې وړوته گـــــوره په واړه نظـــــر ونه گـــورې
مل که یې قطره نه وي نو څه دي له توفــــان سره

دا وړې قطرې به عالمــــونه لاندې باندې کړي
یو که شي له میــــــل دمـــــکان او دزمـــان سره

مه اخله نظـــــــر بلنـــد نظره له دې تیټــــو نه
سپک به دې شي وزن د جـــگوالي له میلان سره

د قافلو هادی

باز دهنـــــدو کش یمه اتل دلـــوړو غرو يمه
ننـــګ يمه ، غيـــرت يمه، بخرکی د پښتو يمه

رېږدي زما له توري ددښمن زړه لا په قبـر کې
اوريمه، توفــــان يم، محـــــرک د زلزلو يمه

ولس لرم ، وطــن لرم، ماضي او مستقبـــل لرم
بهنده تاريــــــخ يم ، مـــؤلد د حـــادثو يمه

لاس د تجـــاوز ته د هيـواد په هره پيڅه کې
تنــدريم، سېلاب يمه، برېښنــا د آسمانو يمه

تـــوره دغضب يم دښمني د د ښمنــــانو ته
خپـــلو سره خپل يمه شــــکره د شودو يمه

څوک يمه؟ سپايي د آزادۍ او افتخــار يمه
زوی دلـــوی افغان او قهرمان د معـرکو يمه

نوي ژونــد ته لارکــوم له نويو ارمانو سره
ځوان يمه، افغان يمه ، هادي د قافـــلو يمه

ځوانانوته

په دې باغ کې نه قمري شته نه بلبل
نه یو بوټی د ګیا شته نه د ګل

نه د ژوند سندره خېژي له ربابه
نه دچا په چا خندا شته نه ژړل

په ترمیم د دغې وراني میخانې کې
لاس مات شوی د تاریخ او تحول

ساقي ماله یو هسي مي تیار که
چې پې هېر کړم که تېرل وي که وژل

هغه باغ چې د باغوان له وینو روغ وي
هلته نه شي یې مستي او نه خندل

ګلان ندي دغه ویني د باغوان دي
چه هر لوری ترینه خېژي جل او بل

د بلبل د طبعې ساز که له منی شي
په دې جاله دفساد کې او سبدل

هره ورځ کام ته را ځرمه تباهي ده
یا زندان دی، یا ځنځیر دی، یا تېرل

دغه زوړ زور چې وطن یې ویران کړی
دا د ځوان نسل طاعون او یا اجل

دا بـــــودې چې په افسـون د تېرې ژبې
وینـــې زبېښي د اولس په چـــل او ول

څــو په تـــوره لـــــري نشي له وطنه
وطن کـــور د استبــداد دی یا غوجل

د وطن ځـوانان به هېڅکله ښاد نشي
څـــو ونه مني په وینـــو لمبېـــد ل

توفاني ژوند

لېونی کړمه ارمانو ارمانو
ځان غولوم په ترانو ترانو
د ښکلي عرقوم په پیمانو پیمانو
رقیب ظالم او زورور دی ځکه
یار لټوم په بهانو بهانو
د محتسب او د ملا له وېرې
شپې تېروم په ویرانو ویرانو
اې د قوت مغروره مه سپکوه
رندان په څیري ګرېوانو ګرېوانو
یارانو ژوند په شرو شور کې ښه دی
لکه څپې د توفانو توفانو
یارانو مړ شوم د مستۍ له زوره
ما ګرزوي په میخانو میخانو

د عصر لورته

ستا په هره کـــــرشمه کې نوی ســوز او نوی ساز دی
نوی درد دی، نوی شور دی، نوی طرز او نوی راز دی

ستا دې نوي سوزو سازته بې تعبيره شوو شعـــــرونه
ځــــکه ستا دا زلمی حسن له زړو نه بې نیـــاز دی

نه دې زلفې په مــــلا زانګې تر ورنو او زنــــګنونو
نه دې ستر ګې تورې کړې نه دې ستر کې اعجــاز دی

نه دې رم تیــــرو ته ورته ، نه دې چم هغسې شان دی
نه دې هسې وړ انجـــام دی، نه ده هسې وړ آغاز دی

اې دنوي عصـــــر لورې ، چې ســاده یې سر تر پایه
په دې واړه سادګۍ کې دا څه رنګ او څه انداز دی

دعصر لور

اې دنوي عصر او زمانې لورې !
څه غواړې او چاپسې آواز کوې ؟
اې د هندوکش دلوړو غرو زرکې !
بیا څه ابتکار او څه اعجاز کوې؟
زړه دې راته ښکاري نوی شور لري
څکه کرشمې د سوز و ساز کوې
دود دا سارت تالا کول غواړې
نویو ارمانونو ته پرواز کوې
عصر او زمانه واړه غوږونه شوو
ته چې د دردونو امتیاز کوې

ستا لپاره...

زه چې تل د ژوند ترخو غمونو ژړولی یم
زه چې ناکامیو بدمرغیو کړولی یم

زه چې خپلو هیلو کباب کړی عذاب کړی یم
زه چې هر ظالم لکه یتیم غوندې وهلی یم

زه چې د هر مار او هر زمري د خولې طعمه یمه
زه چې هر نامرد د جفاغشو ته تړلی یم

زه چې لکه دروی د هر شپون ترجماني کوم
زه چې هر محروم خپلو دردو ته غبرولی یم

زه چې د قام فقراو ناپوهي د سپیلني په شان
هره ورځ په تېغنه دتورونو اړولی یم

زه چې د ناوړه زمانې په هره لوبه کې
سل وارې په مخ باندې لوېدلی درېدلی یم

ما داهمه واړه ستا په مینه کې زغملي دي
اې گرانه هیواده! ستا لپاره مې منلي دي

د مینې ژړا

په ما تنګ کړل زمانې سحر او شام خپل
ته اې مسته ساقي مه سپموه جام خپل
د بلبلو چغېدو ته سوځم سوځم
چې ویلای شي ګلونو ته مرام خپل
دا چې شور او شاعري یې را نصیب کړه
زه په خپلو سترګو ګورم سرانجام خپل
د ډېوې اوښکو ته ولې حیران ګورې
عشق له خپلو لمبو اخلي انتقام خپل
چې د مینې په ژړا یې آموخته کړم
ما اخیستی له غمونو نه انعام خپل
تر هغو به خپلې اوښکې پاکې نکړم
څو له خپلو اوښکو وانخلمه کام خپل
ګوندې یار له درانه خوبه را بیدار کړي
مالېږلی د سپېدو په لاس پیغام خپل

کاشکې زه عاشق وای

کاشکې زه عاشق وای دیار وره ته مې ژړلای
ما ورته ژړلای، رقیبانو را شړلای
ما ورته له سترګو مرغلرې بهولای
دې راته خندلای، په خندا یې ځورولای
زه په وچو دښتو او کمرو کې پسې تللای
دا لکه هوسۍ زما له سیورې تربدلای
ما لکه پتنګ دا په شغلو کې لټولای
دا زرینه وړانګه وای او نه نیول کېدلای
ما لکه ساحل وای خپله غېږ ورته پرانیستې
دې لکه څپه هره شېبه په مخ وهلای
کاشکې دا پښتون زړه مې یوې پېغلې تمناته
ګونګ وای له حیرته لکه پانه رپېدلای
کاشکې دیوې مستې په زلفانو کې وېښته وای
باد دسباوون دیار په شونډو رپولای
هر څه چې وای وای دې خو له دې سکونه خلاص وای
لېږ څه خو ځېدلای، کړېدلای، چغېدلای

پښتانه

زنداني آشنا ته [۱]

بوی د کبــــاب جګ دی له ګـــو ګله د يارانو
بيا چېـــــرې چا زړه اېښی په اور د انقـــلا ب
خو ځي داجمــل په زولنــو کې د غيرت چيغه
عقــــــل د پښتون ته ور کـــــوي نوی شتا ب
زوی د آزادۍ دانقـــــلاب دمور په تې پورې
لولي په خـــــا پوړو کې د سرو وينو کتـــا ب
ا يل به زمــانه شي خا مخــــا همدغه طفل ته
رسي به دا طفـــل مر حـــلې ته د شبـــا ب
دو اړه دښمنان دي پاکستـــان دی که فرنګ
توره خوشې نکړې چې خو پاک نشي حساب
خــلاص به ترېنه نشې اې پښتونه په زاريو کې
ګـــــرزي په خا شا کو کله مخه د سېـــلاب
سر د استعمـــــار د مار پخــوا تر چيچو وځپه
وخوځه لا وخت شته خپل سنــګر که انتخاب
ګڼې زلـــــزلې کړه ددښمن په زنـــدانونو کې
کوز کړه دغاصب زړه ته د تورې اضطراب
جار دې شم، صدقه دې شم، قربــان دې شم
پام کړه خوشې نکـــړې سره کړۍ د انقلاب

۱ ــ دا شعر هغه وخت ويل شوی چې د پاکستان حکومت د پښتنو د سياسي مشرانو دعمومي ګرفتارۍ حکم وکړ.

وروستۍ خبره

نا مېنده زړه مې انتظار باسي
ما غزه مې جور دخمار باسي
ستړی ستو مانه آزرده مړوند مې
جفا درزم او افتخار باسي
زړه چې دردمن شي خو نارې به وهي
سېلاب چې وخوځي خو لار باسي
د رقيبانو سر په سر ظلمونه
موږ مرحلې ته د قمار باسي
ساقي راواړوه کاسې د ميو
نېشه مې تمه د ديدار باسي

اې له عالمه آزرده پښتونه
اې وير ځپلې غمزده پښتونه
پخپل وطن کې د پردو مزدوره
د آزادۍ په نوم برده پښتونه
ستر ګې لمبې وهي چې تا ته ګورم
اې غولېدلې اې ساده پښتونه
د ژوندانه له سيره پاتې شولې
په درانده خوب کې بيهوده پښتونه
کله به پا څېږې مزل به کوې
اې د مرګي په خوب ويده پښتونه

په زولنو کې به حيات څه وي
د اسير قوم به صفات څه وي
سر چې جنون د آزادۍ نلري
د داسې عقل به نجات څه وي
که کام بې عقله ، بې شعوره وي نو
فرق به د زهر او دنبات څه وي
په غلامۍ کې به پښتون څه کوي
ددې پښتون به ثمرات څه وي
آيا پو هېږې د وطن بچيه
چې په پرده کې به نيات څه وي

له زمانې سره يوځای

تګ چې له شتـــاب د زمـــانې سره همـــراز نه وي
ژوند کې چې دردونه نه وي، سوز نه وي ګداز نه وي
چېرې چې میـــــلان پورته آسمان ته د پرواز نه وي
ولس سره چې لار نه وي، انجام نه وي، آغاز نه وي
داسي يوه فضا کې د خپل ځان خاورې کول خوشي
درد خوشي، آرزو خوشي، دفـــکر خوځول خوشي

ځوان لره چې ننـــګ لري د سر فـــدا کول څه دي
تورې د پښتـــون ته د کـــړيو مــــــاتول څه دي
عقل او تدبیـــــر ته د کامـــونو خوځـول څه دي
خلــــکو ولسونوته دغـــــرونو لـــړزول څه دي
سر که چېرې سر وي خو نشان دافتخـــار دې وي
ننګ دې وي، غيرت دې وي، دتورو يادګار دې وي

اې ګـــــرانه پښتونه چې مـــاضي او مستقبل لرې
بهنـــده تاريـــــخ سره نړۍ ته راوتـــــل لرې
پام کــــوه بیدار شه چې په مخ کې لا مـــزل لرې
حق ثابتـــــول لرې، دتورو خـــــــوځول لرې
ستـــــا ژبه، تاريخ او بېل هیـــواد واقعیت لري
ستـــــا ادب او دود ځـــانته وجود او حريت لري

ته څنــګه زغمای شې چې مـريی شې له پښتو سره
خــرڅ شې له ولس او له تاريــخ او له ژانـګو سره
بېـــله خپـــله لار کړې له پلـــرو او له نيــکو سره
نه نه، داسي نــدی، ته پښتـــون يې له پښتـو سره
ستا په غـــرو کې نغښتي زمـــانې غښتلوتونه دي
ستا له خمبـــرې سره اخشلي توفـــــا نونه دي

پام کـــــوه زلميه چې نړۍ په خو ځيـــــدلو ده
لر اوبر کـــــړۍ د غـــــلامۍ په ماتېـــدلو ده
عقــــل دانسان ته زمـــــانه په رپېــــدلو ده
نور د آزادۍ نه بنـــــــدګي په کتېـــــدلو ده
ته داستعمـــــار پاړو ګـــــرانو غولــــولی يې
واک يې درنه وړی په نطفه کې يې وژلـــــی يې

د آزادۍ وږمه

شپه د خپــــلواکۍ وه په چمن کې نخښېــــد مه زه
مست ومه بېخــوده هرې خوا ته ږنګېــد مه زه
لاس مې لګــــــولي وو د ستــورو په زرې څڼو
ورو ورو له سپوږمۍ سره اسمان ته ور ختمه زه
غــــلی مې نظر د ټېټ شوي پښتــون لور ته ، ته
پټ د زړه دننه ، پخپــــل اور کې سوځېدمه زه

زړه ته مې څپه څپه غمجن شــــــاني آواز راته
جوش د خوشالۍ کې مې غـوږو ته نوی ساز راته
شپې سره سړې وږمې راوړی بـوی د وینــــو و
روح د ابا سین څخه یو نوی سوز و ســاز راته
ستورې ځلېـــد ل او شپه روانه په ښـــار باندې
ما ته داجمــــل له زړه نه هسې یـــو آواز راته :

اې د آرزو ګـــــانو ، امیــــدونو او اسرو ربه !
وسپــــړه او وسپړه ، زمــــــا دردونه وسپړه !!
اور مې که، لمبه مې که، ایره مې، لو ګی مې که
وسومه او وسومه ، زمـــــا اورونه وسپـــــړه
لیک بندې ، وینا بندې، لیدل او اورېدل بندې
لاس د آزادۍ نه دا چـــار خېـخ بندونه وشېړه

ځوان يم هوشېـږم ، ددې لارې قربـــاني مې که
اور را بانـــدې بل کړه خــو مشعل د آزادي مې که
شو را که ، وفا راکه، مستي را که ، گـــرمي را که
سېـل د آزادي مې که ، قوي او توفـــاني مې که
باد مې که،برېښنا مې که، څپه مې که ، دريا ب مې که
فخـــر د جهاد را که ژونـدی جـــاوداني مې که

بې له آزادۍ نه دا ژونـــدون څه دی جهان څه دی؟
نوم دسړيتـــوب او د شرف او دوجـــدان څه دی؟
توره ترژمۍ د ا ســـارت چې غوړېـــدلې وي
هلته فـــرق د خره او دغــوايي او دانسان څه دی
بل که يا څـــراغ د آزادۍ چې شريف ژونـد وکو
وسوځه يا ما زمـــا د ژونــــد دغه سامان څه دی؟

وينـــې مې را ا ېشي په رگـــــو کې ستنېدی نشم
هيـــلو سر اخيستی زه مـــخ ته درېـــدی نشم
مټ مې په ځنځيـــــر کې د کړيو ماتول غواړي
نور په دې ننگينه اسا رت کې اوسېـــــدی نشم
مات کـــــړه ځنځيرونه کنه گله به محشرونه کم
بوی د آزادي را باندې لـــــگي تمبـــدی نشم

د آزادۍ شپېلۍ

اې شپېلۍ خوږې شپېلۍ زما د ترانو ژبې
اې د رتل شويو، ځپل شويو او سپېلو ژبې
اې د کاروانيانو، لېږ بنو او ښبنو ژبې
اې په تورو شپو کې دچوپيا دعظمتو ژبې
اې د ځوان شپونکې د بې تعبيره ارمانو ژبې
اې د بې پناهو يتيمانو د سلگو ژبې
نن د خداى لپاره زما د زړه پاسباني وکړه
زما د مضطربو ترانو ترجماني وکړه

اې شپېلۍ خوږې شپېلۍ زما دردونه ووايه
ووايه چې سوځم دا رسوا دردونه ووايه
وې ښيه هغو ته چې آرزو لري احساس لري
يو يې سه افشايې کړه دا پټ رازونه ووايه
سوځي مې رگونه د دردونو په سازونو کې
چبرې کوم دردمن ته دا رنگين سازونه ووايه
ور دې کړه نغمو ته بيا رنگونه د دردو زما
ور دې کړه دردو ته بيا خوږوالى د نغمو زما

سوځي مې هلوونه يو علاج زما د دردو وکه
يو ښکلې چاره زما د سرکشو ارمانو وکه
زما له فريادو سره ملگرې کړه نغمه خپله
ويښ که دغه خلک يو تدبير د پښتنو وکه

دې جامدو غروته حرکت ورکه، قوت ورکه
زموږ سره ملګری شه مـــلاتړ د زلزلو وکه
پر پړده دتیري او تجاوز سنـــګرې ماتې شي
پرپړده چې د ظلم او استبداد ککرې ماتې شي

یو سه زمــــا دردونه زمــــا له بلنده لمبو سره
زمــــا له تندریزو خوځوونـــــکو ترانو سره
وې غــږوه، وې رپــوه،وې خوځــوه، وې لـوله
زما له خـــون شریکـــو خپلو وروڼو پښتنو سره
زما له ګـــرېوان څیرو، پښو لـوڅو بوټېنو سره
زمـــا له بې پنـــاهو، بې ټاټـــوبو اوښبنو سره
ور شه د پښتون قـــام له دې غـــرو رغونو پا څـوه
یو ځل داویده زمــــری له دې خـوبونو پا څوه

خوب نه که راویښ شو په زلـــزل به زندانونه شي
لړزند به په وینـــو کې واټـــونه او ښــارونه شي
جوړ به هري پوراومونت ګمري کې محشرونه شي
مات به په پښو د انقــــلاب کې ځنځیـــرونه شي
اوښـــکې د مظلوم به بارانـــونه سېـــلاوونه شي
غـږ د آزادۍ به توفــــانونه تنــــــدرونه شي
لوبې سختې ندي غیـــــرتمنــــوته له سر سره
سر غـــوڅ شوی ښه دی نه دنورو له افسر سره

اې شپېلۍ دا اوښکې زما په مخ باندې شعرونه دي
دا زمــــا د دردونو ویلي شوي تعبیـــرونه دي

زه پښتــون یم او ښـــکې مې د یأ س د ژړا ندي
دا زمـــا له احسا سه را وتلي پیغـــــا مونه د ي
نه نه زه غلط شوم دا سر کشه توفـــــــا نونه دي
ډوب به کړي دښمن دا نافرمانه سېـلا وونه دي
سم به کـــړم دا سېـــل ددښمن دا ستعما ر په کور
یعنی د غـــا صب د د بد بې او اقتـــــدار په کور

درد زمـــا، آرزو زمـــا، اسره زمـا، ارمان زمـا
دا ښـــکلی جهـــان زما، د شعر ګلستـــا ن زما
عشق زمـا، وفا زمـا، اولاد زمـا، بنیـا د زمـا
وا ړه دې قـــربان شي تر آزا د پښتونستـــــان زما
هــر داغ دسینې به مې د ګـــــلو غوټۍ وسپـــړي
دا دغـــم نړۍ به شي جنت زمـــا بستـــا ن زمـا
چېـرې که برېښنـــا دآزادۍ پښتون ته وخنـــدل
چېـــرې که پښتــــون دا ستعمار په وینـو ولمبل

یو سه زما سنــــدرې دپښتون د انقـــلاب پلو
اې خـــوږې شپېلۍ دانقلاب او اضطـــرا ب پلو
زه له دې بې خـــونده عافیته بېـــزار شوی یم
بو مې زه دتنـــدر ، دتوفـــا ن او د سېـــلاب پلو
ډال مې که ، خنجر مې که،سنګر د معرکو مې که
رب د پـــــا ره بو مې زه دوینــــو د تالا ب پلو
ژرنده د آسمـــا ن مې که د سر په کاسه وګرزي
زه به ګـــام اوچت کړم د میـدا ن دامتحـا ن پلو
دا زمـــا قسم دی چې به مـــــرمه له پښتو سره
یا به آزاد ژونـــد کــــوم له ټولـــو پښتنو سره

د آزادۍ لار

ستــــر گې بیا یېتا به شوې تمــــــا شو ته
قلــــم بیا ځغـــــلي له شـــوقه ترانو ته

بیـــا په شونډو را بهېږي مـــــو ج د مینې
بیـــا مې زړه لــــکه مـا شوم ژاړي لیدو ته

د چمن هـــره گیـــــا تر گـــــل تـازه ده
چې مـــخ بږدي د ښـــکلو نجونو قدمو ته

زړه مې بیـــا دچا دزلفـــو په دام کېووت
چې رېبـــــږي لــــکه پا ڼه ننـــدارو ته

سر بازي دعـــا شقي لومــــــړی مزل دی
مټ مې ځـــــکه پا رېدلی هنـــگا مو ته

دوطن بوټي ځوځــــــا ن ، کاڼي او پر ښي
په نڅـــــــا دي نویو نویو ارمــــــا نو ته

د ځـــــوانانو په اسرو او امیـــــدو کې
سر جګ کړی زما شعـــــر اسمـــا نو ته

د هیـــوا د خـــاوره به جـوړه د جنت کړو
که غوږ کېـــږدو ددې عصر زمـــزمو ته

د هیـــوا د ځوانان دې هله افتخـا ر کړي
چې لار وبــــا سي وحـــــــدت د ولسو ته

سر به څه کوې چې ننګ غيـرت يې نه وي؟
لاس به څه کوې چې مات وي خوځېدو ته؟

هغـــه لاس او هغه سر د افتخـــــار دي
چې په مـــخ ځي سر منـــزل د رسېدو ته

ځوانه ګـــوره چې فرصت درنه لاړ نشي
تـــورې ندي پا کېـــد و او ځـــړېد و ته

زمــــانه په هر قـــدم امتحـــان غواړي
لاره بـــــاسي خونـــړيو زلـــــزلو ته

آزادي د زړورو ملـــــک او مــــال دی
په زاريـــو ورکــــړه نشي ملتـــــو ته

نېـــکمرغي د هغه چا دشمـــلې ګــل دی
چې سر کېږدي دخوني زمـــري غا ښو ته

د افغــان هيـــوا ده ټـــول ملت ولاړ دی
غېـــږه پرانيزه چې پـــرې دې وزو پښـــو ته

ستا تر هر بــو ټې به سل ځله قــــربان شو
څو چې وينه د پلـــــرو راځي رګـــو ته

که زمـــوږه سر او مــــال هم پکې لاړ شي
لار به پرانيــــزو پيـــــاوړو نهضتو ته

سر به جار کړو ستا تر هرې لوېشتې خاورې
که محـــــتاج شې قربـــــانيو د سرو ته

دغليم ستر گې به وبـــا سو په گــــــــوتو
که کړې شي ستا دلـــوړو غـــرو سرو ته

که تاجک، که هزاره دی که پښتون دی
ارمـــانجن دی ستا ځـــلاندهورځو شپو ته

په ډا گـــو به دې دگـــلو توفان جوړ کړو
په لېمـــو به لاره وکـــړو په مــــــخ تلوته

واړه يـــو يـــو، امتيـــــاز راسره نشته
يو تر بله قربانېـــــږو رسېـــــــــدو ته

دافغـــــــــان ولسه ورور اوسې تـر تله
زيان دې مه رسه وحــــــــدت دوسو ته

لويه لوړه هندوكشه

لويه لــــوړه هنــــدوكشه　　د شــــاهين او بـــــاز وطنه
د هېــلمند او آمــــو پلا ره　　د توفـــــان او سېـــل مينه
دا شيــا د غــــرونو تــاجه　　د پښتـــون د قـــام عدنه

آ خوا ، دې خوا ، ستـا په تړو وريځې لړې راتاوېږي
يا د پښت دقام غيرت دى چې په تابا ندې غوړېږي

د هېــلمند په غور ځنگو كې　　د آمـــو په توفــــانو كې
د كــــوكچې په نارو چيغو　　دا ټك په سېـــــــلاوو كې
د مرغـاب دسين په موج كې　　د هــــــري په ترانـــو كې

ستا د لوړو كاڼو پرښو يا دا ستان ياترانې دي
يا د پكت د قام د تېرو په وياړنه افسانې دي

ستا په لـور چې مې نظر شي　　له غيـــــرته ليــونى شم
ستــــا د تړو له جنـــونه　　په غـرو گـــرزم غرځنى شم
دغيـــرت لمبې راتــاو شي　　ستـــا په پښو كې سپېلنى شم

په تا وياړو ، تا به ساتـــو د پښتــــون تېــر سنگــــره
د تاريخ دباغ ښايستـــه ، د دښمن مخ تــــه سپـــره

ستا له شا او خـــوا روان دي نهضتـــونه په ځپـــــــو کې
غواړي نوی پښتون جوړ کړي ستـــــا په پښو او قـــــدمو کې
ستـــــا د مست باد له جنـــونه وینـــې ایشي په رګـــــــو کې

دا چې وزي زما له خولې نه، نه پـــــو هېږم ترانې دي
که زما په ســوي زړه کې ، ستـــا له عشقه زلزلې دي

خانده ، فخـــر کوه ، ویا ړه را روان کړه سېــــــلاوونه
په غړا کـــــــــړه پښتنو ته د ژونـــــد نوي ربــا بــونه
چې کړم ډک د ستا له عشقه نوي نوي کتــــــا بــــونه

ویاړه ویاړه چې راغلی په پښتـــــون نوی شبا ب دی
په هر فکــــر او هــــر نظـــر کې نوی نوی انقلاب دی

دکوکچې په غاړه

دښکلي بدخشان په پسرلي کې له هرلورې
دګلو په څپـــــــــوکې د بلبلو هنګامه وه
دعشق او دښايست او دښکلا په فيض آباد کې
دستورو ، دآسمان او دپېروونو ننداره وه
دلعل او د لاجبر ، او دسرو زرو پەوطن کې
روانه يوه له سوز او درده ډکه ډرامـــه وه
له موجـــه دکوکچې نه راوتلې زلزلې وې
دتورې شپې په زړه کې دلمرونو نښانې وې

دښکلي طبيعت او ښايسته آسمان دلاندې
په ساپه ، بې غباره ، جنتي غوندې هوا کې
دغرو له لوړو څوکو، دګلونوپه غورځنګ کې
دمست او لېوني سين د موجونو پەګډا کې
دباد له ترانو سره چې ستائ‌ی د پامېر و
دژوند په زمزمو کې، په خندا کې په ژړا کې
دسېل په څېر راغلې له هرلورې افسانې وې
دګران وطن دخلکو هېرې شوې خاطرې وې

له باد او له وږمو سره موجونو دکوکچې ته
راغلي له پامېره داستانونه دتـــوفانوو
دواورو په اوبو کې يو جهان دخاطراتو
له لوړه هندوکشه بدخشان ته را روان و

په هره ترانه کې چې کـــوکچې به سر کوله
کشل سوی په خوږوخوږو نغموکې تللی شان و
ویدې په هره پاڼه کې پیړۍ او زمانې وې
په تېرو زمانو کې د پلرونو خاطـرې وې

له بلخه، له هــــرې نه، له زرنجه، له بامیانه
له هر لورې راغلې افسانې وې په وږموکې
ښایست و ، پاکه مینه وه، وحدت د پرګنو و
تاریخ تنې پرانیستې د زمان پـــه ګفتګو کې
په بهنده کوکچه کې چې راوي د هندوکش ده
درام د کنشکاو ښودل شوی په مـوجو کې
را غلې فیض «آبادته» د یو والي قـافلې وې
د ټول افغان ملت ، د پاڅېـدلو زمزمې وې

په زړه کې مې له درده یو توفان په خوځېـدو و
په یوه څاڅکي دوینوکې جهان په خوځېـدو و
ژوندۍ تانده وږمه ،له اې خوا دې خوا چلېدله
زلمی او منور افغانستان په خوځېـــدو و
د عصر په خـــوږو او خـــوندورو پیغامو کې
له جرمه تر پامېره ، بدخشان په خوځېدو و
د تالندې په چیغو کې، دنوي ژوند نارې وې
د نـــویو یرغلـــونو د لامـــونو هنګامې وې

راغلي دې محفل ته له هر لورې شاعران وو
زموږه د پښتـــو او پښتنوالې راویان وو

شیدا و، ما شو خپـــل و ، د ختکـــو کورنۍ وه
ټول شوي په ویاړنه د بابا عبـــــد الرحمن وو
زموږ ه په خـــو بونو، غفلتــــــونو یې ژړا کړه
له ستر گو یې داوښکو سېلاووونه را روان وو
په شونډو درحمان کې د دردونو زمزمې وې
تاو شوې په غیرت د پښتنوا لې کې لمبې وې

خوبونه کله کله ربه ځومــــره خوندور وي
یا ښایي چې زمـــوږه په دردو باندې خبر وي
یادا چې زموږ په هیلو او ناپا یه هوسـو کې
د صبر او ســــــــر بازۍ او د وفا دغه اثر وي
یا فصل د بها ر به د گلونـــــــــــو په توفان کې
را وستی زما خیا ل لره بدل غو ندې نظر وي
سبا له خوبه پا ځېدم نه چنگ او چغـــا نې وې
نه ښکلي فیض آباد کې د جشنونو نشانې وې

د وړ کتوب ارمان

بېړۍ د ژوندا نه مې د گرداب په لورې درومي
خبرې مې د موج او د سېلاب په لورې درومي
بنا مې د آمالو د خراب په لــــــــورې درومي
د درد او بدمرغۍ او د عذاب په لورې درومي
نظر مې غلی غلی د کتا ب په لـــــورې درومي
د درس او مدرسې د اضطرا ب په لورې درومي

بزگر وای ، بې خبر وای ، پرا خې د ښتې مې کرلا ی
د غرو د څوکو شپون وای ، وريې او مېږې مې پولای
مزدور وای په غـــــــرمو کې مې ډبرې ماتولای
بندي وای په زندان کې مې مېچنې گـــــــرزولای
خو کا شکې د قلـــــــم په ژبه نه وای پوهېدلای
د ژوند دراز کتاب مې هـــــر گز نه وای اړولای

شپېلۍ چې دشپانه دغرو په تږو کې غږېږي
آواز چې د اوښبه په پرا خود ښتو کې خورېږي
لنډۍ چې د بزگر له ساده فکر نــــه را خېژي
کو چيان چې د کيږديو په اړخونو کې نڅېږي
افسوس مې له دردو سره له زړه نه را خوځېږي
له اوښکو سره گډ شي تورو خاورو ته بهېږي

نا يابه هلكتوبه چېرې لاړې چېرې لاړې
په تېرو ورځو شپو کې چېرې ګرزې څه شی غواړې
په هيرو زمانو کې په چا خاندې په چاوياړې
غمونو ته دې پرېښو دم پخپله رانه لاړې
په سترګو کې مې ګرزې کله خاندې کله ژاړې
ورو ګامونه اخلې د تاريخ لمنه نغاړې

احساس مې غلی شوی دما نیو په اړخو کې
ايمان مې خيرن شوی په درواغو سلامو کې
بې خونده، بې مزې شوم ، په چوکيو په مېزو کې
پښتو مې ورکه کړې په فاسدو طبقو کې
اورونه دې سوځل کړي په موټرو په قصرو کې
ګران شوی ماته ژوند دی په دې خلکو په سړو کې

سپوږمې مې مزه نه اخلي دګلو له وږمو نه
غوږونه مې خوند نه وړي درباب له ترانو نه
احساس مې پردی شوی د ښايست له پلټو نه
رټلی يم د ښکلي طبيعت له ننداروو نه
شعور مې ستومان شوی د دې عصر له پېرو نه
خيال مې مرور دی له دې نويو شازلمو نه

چونغر

دچونغرتراني

چو نغر دلا يق د شا عرا نه ا لها مونو لومړنۍ زا نګوا و د با ختري آريايا نو له تا ريخ سره يو تړلی غر دی .«سرخ کوتل» چې د کو شا ني دورې د مکشوفه ودانيو او ايرانوونکو تا ريخي آثارو له کبله د نړۍ په لرغون پيژند نه کې ځا نګړی ځای لري دهمدې چونغر په لمنه کې پروت دی.

چو نغر د جغرا فيا يي مو قعيت له پلوه د بغلا ن د و لايت د پلخمري په ولسوالۍ کې ، دغوري دشنې نا وې لوېد يځ ته ، شما لا جنو با غوړيد لی دی . د لايق د استو ګنې کلی «بالا دوري» دکر کر د غرونو د لړۍ په لوېد يځو لمنو کې ، چونغر ته مخا مخ پروت دی.

پر طبيعت مين لايق دزده کړې په دورا ن کې ، د رخصتۍ وختونه پخپل کور کې تېرول چې مخا مخ چونغر ته پروت و. هغه دکور له خلا صو کړکيو څخه په بيلا بېلو موسومونو کې د چونغر د کمال او جمال مختلف حالا ت څا رل او د احساس او الها م د خپلولو له لارې يې د ژبنيو تصويرونو د جا دو ګر هنر تجربه پخوله . په دې کې چونغر د پووندو پښتنو له منځه دغه را څر ګند شوي شاعر په ځان کې را ونغاړه او هغه يې دخال او خط د ستا ينې له محدودې دا يرې څخه را ويوست او د طبيعت نا پا يه سمندر ته يې ور ټېل وا هه . د هغه په ژبه يې دستورو ، سپوږمۍ ، غرونو، سهمجنو شپو، توفانونو، او د وريځو د غور ځنګ سرودونه جا ري کړل . هغه يې په ما ښامونو او سحرونو کې ولمباوه او د زړه په سر يې دانسا ن د مينې دا غ ور کښنود او په دې ډول يې هغه ته د عاشقانه فريادونو او له انسا ن او طبيعت سره د نا پايه لېوالتيا ژبه ور زده کړه . شاعر په چونغر مين شو او په هغه کې يې د خپل وطن بې سا رې طبيعي ښکلا او د تا ريخ ايراوونکې خوا رق احساس کړل او

داسي په چونغر کې ويلي شو چې دعمر د کمال په پوړۍ کې هم لا په هغه کې ډوب دی.

ا مين «ا فغا نپور» چې له لايق او دده دآثارو له روح او جو هر سره تر هر چا ډېر بلد ا و محشور و، ويل به يې «...چو نغر دلايق د شا عرا نه الها مونو «طور» دی ، هغه د ارا دت له مخې، دخپلو شا عرا نه الها مونو لومړنی ا ثر ددغه ستا نه طورپه نامه ، ونوما وه . » خو د چونغر له ۳۲ ترانو څخه يوا ځې ۸ ترا نې په لومړني دفتر کې چا پ شوې دي . له پاتې ترانو څخه ۱۲، ۱۳، ۱۸، ۱۹، ۲۱، ۲۲، ۲۶ او ۲۷ په «کيږدۍ» کې (چې دافغاني زلميا نو په همت د با ندې خپره او وطن ته په پټه راوړل شوی وه) چا پ شوې وې .

لا يق وايي چې نا خپرې شوې ترا نې دده دنا خپرو شويو شعرونو له يوه بل دفتر «سپېدې » او له ځينو نا بشپړو دا ستا نونو او دده ديادداشتونو له ځيني دفترونو سره چې ده دخوندي کولو په مقصد د ګوند په مر کزي کمېټه کې خپل د فتر ته را لېږدولي وو، د ۱۹۹۲ کال دا پريل په پېښنو کې د کارمل دپلو يا نو له لورې چې د شما ل دأ ئتلاف په ننګه کې در ېدلي وو ، لوټ شول او لا تر اوسه د هغوی لورې نه دی معلوم . په هغوی کې دا سحق ننګيال يو اوږد شعر چې ما ته يې د نظر او سمونې لپاره سپا رلی و او دده دفکري لورې او سبک تر ټولو اوچته نمونه وه ، هم الونيا شو . لايق وا يي کېدای شي چې نوموړې ترا نې يا دهغوی يوه بر خه دده په نورو يادداشتونو کې چې ده دبحران په شپو ورځو کې دلته او هلته دا حتياطي کا پي ګا نو په تو ګه خوندي کړيي وې ، را پيدا شي، خو په داسي يو احتمال باندې ډاډه نه دی. دا وه د چونغر د ترانو او د چونغر د شعري دفتر د نومونې په باب يوه لنډه تو ضيح چې د لايق د شعر لوستونکې هغه مطرح کوي.نور نو دا تاسو او دا دچونغر ترانې :

لومړی ترانه

اې د کرارو چوپو شپو چونغر !
ستا د درانده سکوت بلاواخلم
ستا د چوپیا تر سلو ژبو جار شم
ستا دعظمت تپوس له چا واخلم

ته چې پېړۍ پېړۍ ولاړ یې دلته
ډېرې قصې او خاطرې به لرې
د شپې له ستورو او پېروونو سره
راز او نیاز او زمزمې به لرې

زه ستا د تورو تپو شپو په زړه کې
د ناپیدا دردو سپړل غواړم
د یوه ځوان شپونکې له درو ي څخه
د سویو هیلو اوریدل غواړم

کله چې ستړی شم د ښار له چیغو
د سحر ستورې ته پیغام لېږم
د ده په سپینو او زرې څنو کې
ستا لوړو څوکو ته سلام لېږم

د تا په لوړو لوړو څوکو کې زه

د عشق او مینې ورک جهان لټوم
ستا په وریځو او په تالندو کې
د ابدي ښایست نشان لټوم

کله چه زما د ژوند دېوه تپه شي
زما شعرونه به لا تا ستایي
پېړۍ پېړۍ به زما په مرګ وي تېرې
لا زما خوره به چونغر وایي

دوهمه ترانه

اې دنيکونو او پلرونو کوره !
اې درنگينو خاطرو چونغره !
ستا هره تړه د تاريخ پا ڼه
اې دلر غونو عظمتو چونغره!

په دغو شا او خوا درو کې وايه
ستا شازلميان او سر بازان څه شول؟
د هغو مړو لمبو ايرې کومې دي؟
د هغه اور سمندران څه شول ؟

هغه بېباکه عا شقان چېرې دي
هغه دژوند ښکلي ليلا څه شوه؟
دتا د خاورې په قدم قدم کې
دعشق او مينې تمنا څه شوه؟

ستا په درو کې چې شاهان خوځېدل
اوس هلته هېره او مرگو خوره ده
ستا په ښارونو او ما ڼيو باندې
شگه او خاوره د قرنو خوره ده

هلته چې پېغلو به سومـــا څکله
اوس يا گيدړې يا لېوان گرزي

د سرخ کوتل د ویرانو د پاسه
اوس یا غوا یي او یا اوښان گرزي

کلــــــونه زغلي زما نــــه تښتي
او زه ستا څوکو ته حیران گورم
د پسرلي په انتظار شــــومه زوړ
لا ستا په پـــر ښو کې خزان گورم

ستا په کـــــراره او سړه فضا کې
چونغره زړه مې څو ناري غواړي
د ژمي شپه کې چې سپوږمۍ خوره وي
څــــو دردوونکې ننداري غواړي

دريمه ترانه

اې د ښکلا او د ښایست پلاره
اې د پېریو آسماني چو نغره !
زما د شعر په څپـــو څپو کې
لېونی شویه توفاني چونغره

کله چې وربېځي ستا له تړو څخه
را اوچتېږي قـــافلې تــــړي
سترګې زما د بدرګــــو لپاره
د مرغلــــــرو قـــا فلې تړي

د غوري سین چې نارې چیغې وهي
ستـــا د ستاینې تـــــرا نې وايي
د موج په ژبه د آمـــو سین ته
د تا لـــر غونې افســـانې وايي

ستا په سر ستورې سنر ګکونه وهي
زه وا یم ما ته څه پیغـــام را کوي
زما نا کامــــــو آرزو ګانـــو لـره
یو څه تسل او څـــه آرام راکوي

را ســره وغـــرېږه جار دې شمه
چې سخت یوا ځي او تنها یمه زه

د يوې تـــــودې نارې په هيله هيله
يـــــوه لمبــه د تمنــا يمه زه

ته خو لا ښه يې چې د کاڼې جوړ يې
زما زړه غوښه ده دردونه ګالي
که د يوه شپون په پښه که ځوځ لاړ شي
لا يق يې دلتــــه بيا غمـــونه ګالي

څلرمه ترانه

ستر ګې مې اوښکو نه توفان خوځوي
تو فان چې و خوځي خــــو لار باسي
چو نغـــــره څومـــــره به‌مې زړه وا یه
یـــــوې نا رې تــــه ا نتظا ر با سي

زما مغزو کې یوه غــــوغا خوره ده
را نه سرېږي یو څـــــــه اور راکړه
دا ډېــوه ګۍ د تو فان توان نلـــري
ددې سا تلو ته څــــــه زور راکړه

ستا په بادو کې یوه نغمه رارسي
نه پېږم څه وایي خــــو شور لري
له یخـــــو یخـــــو اوسېلیو ســـره
یو سوځــــوونکی غلی اور لـــري

کله چې غم په ما غور ځن□ راوړي
ته زما په شونډو کې خندا خوځوې
زما په سترګي او ستـــــومانه زړه کې
مینه د ژوند او د بقا خوځـــــــــوې

که ته د تېــــرو خا طـــرو پلار یې
یا دې په غېږ کې زمانې دې ویدې

زما د شعــــر په ناپايـــــه سين کې
د ژوند دفکر زلزلې دي ويدې

دا خا طرې او زلزلې به څه وي
که نوي سوز او نوی شور نلري
ډېووو ته هسي لو ګيدل څه په کار
که د پتن□ لپاره اور نلري

پنځمه ترانه

څه را روان دي نه پوهېږمه زه
چونغره بيا دې په سر لړې ښکاري
د غم تر تورو تورو وريځو لاندې
تمام بدن دې دړې وړې ښکاري

گوره چې وريځې تو فانونه نشي
ستا په لمنه بزگـــــران پراته دي
د ساړه ژمي دبادونو وړاندې
بر بنډ او وږي يتيمان پراته دي

هغه د شپون دلوخو كور چونغره
طاقت د باد او د تـــوفان نلري
څپرې وريځې دې خورې ورې كه
د ژمي زغم دې بېوزلان نلري

كله چې ته د واورو تاج كېږدې
ساړه په خلكو يرغلونه كوي
دژمي تېزه او بې شرمه سې لۍ
په بوټينو باندې ظلمونه كوي

كله چې واورې كروندې كړي پټې
زموږ په مځ كې زور دكارشي غلی

چېري چې غر د زورور شي پورته
هلته خو تېره ده چې خوار شي غلی

لکه چې شپو کې د شپنو اورونه
د غره په شپولو کې لمبې وهي
زما نارام او مضطرب روح کې
ستا خاطرې هسې څپې وهي

که زمانې ستا سره لوبې کړې
ستا لوړ کمرونه که کلـــو ځپلي
زما تنکي تنکي او نوي افکار
د کونډو رنډو ا وسېلـــو ځپلي

شپېږمه ترانه

تښتم له ښار او له ښاريانو څخه
چونغره غېږ کې دې يوه ځاله راکړه
په لوړو تړو او کمـــرونو کې دې
خپلو شپنو ســــره يوه تاله راکړه

هلته به مينه او وروري شي پيدا
مرض د لوټ او دفساد به نه وي
ترهرې تيږې او پېچومې لا ندې
وېره د دام او د صياد به نه وي

چې شپه خوره شي ستا په لوړو څوړو
زه به د زړ کــــو تــــــرانې اورم
يا به ورځمــــه په ورغالـو کې به
د زاړه شپـــون نه افسانې اورم

چې رمې وخوځي سبا راشي
زه به له لوړو نه سپېدو ته گورم
يا به د ځوان شپونکي نغمې اورم
يا به دستر گې راختو ته گورم

چې لمر را تود شي په کمرو کې به زه
ديوې څېړۍ سيوري ته ځان رسوم

د چينې يخې او رنې اوبه بــــه
سوي کوګل ته په امان رسوم

ما ښام به ناست يم په يوه لوړه ګټه
له ســـــره شفق ســـره به رازوايم
يابه د دروي او شپېلۍ پــــه ژبــــه
قصـــه د زړه د ســــــوزو ساز وايم

ګرزم به ، خاندم به، مستي به کوم
د غره له زرکو او هو سيو سره
غلام د هيچا د غـــــرور بـه نه يم
خيرن به نه يم غوړ ما ليو ســــره

خپلو سپېڅلو آرزو ګا نــــو ته به
بې خونده شوی شرمېدلی نه يم
دورور تر پښو لاندې کوو سره به
لــوړو ځايـــو ته رسېدلی نه يم

اومه ترانه

اې دبادو او بارانو چونغره
اې د ږليــو او سېلو رانګو
اې د تاريخ د تاړاکو شهيده
د ويدو شويـــو عظمتو زانګو

کله چې ګورم ستا سپېرو تړوته
لکه يتيم ماشــوم ژړا راځي
په تورو شپوکې ستاله پرښوڅخه
يوه آشنا غوندې نــوا راځي

همدا نـــوا زما په مړوايروکې
يوه بې تعبيره شان غوغاخوروي
زما په سترې او ستومانه زړه کې
يــوه رنګينه تمنا خــــوځوي

ته څومره خوږ يې دپلرو وطنه
زما دخا پوړو ورځو شپو وطنه
زما غوغا ستا له چوپيا نه پيدا
اې د الهام او تــرانو وطنه

څومره به ښه وای چې پخپله خوښه
د سين په شانې مې سفر کولای

په مينه مينه مې له هـــــره ځايه
ستا لوړو ځوړو ته نظر کولای

د بېدردانــــــو بېدردي به نه وه
زه به وم عشق او آزادي را سره
د تا دمينې په ناپايه سين کې
وفا او هيله او مستي را ســره

سوځمه سوځمه د رب لپاره
يو خوندور شانې پيغام راکه
د ځو دردونو د ويـــو لپاره
يو زرين مزی د الهام راکه

اتمه ترانه

يو غمځپلی شان ځگروی راځي
چونغره ستا له شگو خاورو څخه
سړې سړې نغمې را رسي پسې
ستا له بادونو او له واورو څخه

ښا يي له سر د کنشکا څخه به
هوس د تخت او د ملکونو وزي
يا به حسرت د درست جهان دنيوو
د ده له زړه نه په آ هـــونو وزي

يا به په هغو ورارو بورو ژاړي
چې ده يې ورونه او زمن وژلي
يابه د هغو خلکو عذر کـــوي
چې ده په مينـــــــه دوطن وژلي

يا بـــــه د ژوند په بې ثباته دوره
اوس پس له مرگه افسوسونه کوي
يا به په تل کې دنمجنو خاورو
د ورکـــــو خلکو تپو سونه کوي

يا به له دې اوږدې چوپيا وي په تنگ
زړه بې هوس د څو ا مرونو لري

يا به له خاورو راوتل غـــــواړي
مينه رغبت به د قصرونو لـــري

نوې څپه

با غوان ته

څومره هوسېږم دې تازه تازه ګلانو ته
دې نويو ځوانانو ته
ګوره اې با غوانه چې د تندې طاقت نلري
تاندې يې نازکې دي

ساته يې خاطر تر څو چې لوی شې غوټۍ وسپړي
لاندې ريښې وتړي
مينه د چمن يې په رګو پلو کې پلنه شي
بيا ګوره توفان درنګ

خوانه يې پلوځې او اغزي او ځوځان لري که
دا دښمنان لرې که
پرېږده چې آزاده هوا چم دجلوې وښيي
دې ښکلو ګلانو ته

کله چې د ګلو په څپو کې چمن وخاندي
يعنې وطن وخاندي
بيا دې زمانه په موږه هرڅه چې کوي کوي
بل ارمان به نلرو

پیغا م

تېر به شي کلونه ، مگر نه به شي
زما دغه رنگيني تراني هېرې
محو به شي گور زما
کلی زما کور زما
مړ به نشي اور زما
تل به زه غبرګ.مه شعرونو کې له کام سره

دا دبېدردۍ او نا پوهۍ څپې
زما هنر او مینه غرقوی نشي
تل به دافغان بچي
پورته دباميان بچي
ښکته دسيستان بچي
لولي زما سندرې له آغاز او له انجام سره

زما ولس به یو سي هيوادونو ته
زما دترانو ښکلي رنگين گلان
تل به د پښتو ژبه
دا دلویو غرو ژبه
دغه د درنو ژبه
ساتي زما شعر له فکرونو او مرام سره

اې زما دځوانۍ تودو تودو هيلو

ننوزئ دشعر ابدي كورته
يو سئ ولولې زما
پټې زلزلې زما
اوښكې قا فلې زما
وروستو زمانو ته ددې عصر له پيغام سره

سوړ ژوند

کا شکې شرنګ دیوه رباب کې
یوه رنګینه ترانه‌وای
یا دیار دڅنګو ول کې
یوه مسته شانڅپه وای
یا د ښکلو په محفل کې
سو ځېدلای یوه ډیوه وای
کاشکې سترګو دیتیم کې
دسرور یو شغله وای
یا په زړه دیوه مایوس کې
یوه هیله یوه اسره وای
کا شکې درمند دستم کې
بله شوې یوه لمبه‌وای
یا په سر دمستبد کې
نا سوړ شوې یوه دانه وای
نه دغه شوم نه هغه شوم
دساړه ژوندبندیوان یم،
ګوره څوک به را نه خلاص کړي
دا بندونه ځنځیرونه

تورو وریځو غوړولي
په دنیا باندې وزرونه

ته به وایې چې خوځېږي
په آسمان کې دغم غرونه
د ښادۍ طلایي ورو ته
بیالوېدلي ځنځیرونه
هدیروته ورته شوي
دا زاړه زاړه ښارونه
په غوږو دزمانې کې
غم سور کړي دي سازونه
غرسپېره، بېدیا سپېره ده
مړاوي شوي دي ګلونه ،
واړه غم دی واړه غم دی
له دې غم څخه ستومان یم
مرګه راشه ماآزاد کړه
له دې تور ساړه ژوندونه

د سلیمان پسرلی

د سلیمان په لوړو پرښو باندې
د تورو وریځو کتارونه خوځي
راته ښکارېږي د بهار په زړه کې
د پښتني مینې اورونه خوځي

بیا بهار راغی لېونی به شمه
د مستو نجونو خندنی به شمه
د لاله داغ به مې ساراته بوزي
خوب مې لیدلی غرځنی به شمه

بیا دوطن د د ښتو کانې بوټې
زما په سترگو کې گلان ښکاري
د لمـــر د لاندې دشبنم ځل کې
درست کاینات او ټول جهان ښکاري

مغرورې پېغلې د پیکي د پاسه
د سرو گلونو کتارونه ایښي
د هغه ځوان لېر به په زړه باندې یې
د سارانۍ مینې داغونه ایښي

د ژرنده گړي د بچو په لاس کې
بیا د لښتیو زېړ گلان ښکاري

په مړاوو مړاوو او سړو شونډو يې
تر خه ترخه موسکې څپان ښکاري

سر را ته ښکاري چې بهار بل دی
يا زما تنده او خمـــار بل دی
ليرې ترخې اوبه به څوک راکړي
په زړه مې اور دانتظار بل دی

يارانو لاره د سارا چېرې؟
ساقي تنګ شوی يم مينا چېرې؟
په دې بېخونده او ساړه ژوندکې
يوه رنګينه مشغولا چېرې؟

نا کا مه هيلۍ

اې زما نا کامه هيلو !
لرې لري شئ له ما نه
هورې لريي په بېد يا کې
د غمونو په چوپيا کې ،
ما نا کام ته
ما بد نام ته ،
بدمرغي چيچي غا ښونه

اې زما زړه زړه لېونيه، خندنيه !
نور مې مه سوځه بېځايه
د ځوا نۍ له مشغولا نه ،
د گلرخو له وفا نه،
بې نصيب يم
زه غريب يم
چېرې زه ، چېرې عشقونه !

دا د هيلو کاروانونه، امېدونه
چې بهېږي را بهېږي
خندوي مې ژړوي مې ،
غولوي مې ،غولوي مې
يا هغسي
يا دغسي
پاروي زما دردونه

نا آشنا نغمه

دا څه آوا ز دی ؟
د چا نيا ز دی؟
پرده د سا ز دی
او که اعجاز دی؟
نغمه شراب دی زه شرابي يم
يا زه کباب يم دا کبابي د ه

خراب خراب يم
کباب کباب يم
د ساقي لا س کې
گرو په شراب يم
عمر تېرېږي يارانو گورئ
پيا لې کړئ پورته چې نه ودرېږي

کاروان روان دی
زړه مې پرېشان دی
ويرژلی ژوند مې
په ماتاوان دی
نا مرا ده عشقه زه دې بر باد کړم
زه دې بر باد کړم نا مراده عشقه !!

رسوا مینه

سپوږمۍ دلوړو غرو له شا نه راخته راخته
سپینه رڼا په‌لویو دښتو خورېده خورېده
وږمې د گلو له عطرونو سره
شپې د شپنو له آزازونو سره
نشې د میو له جامونو سره
زما په لاسو کې ځنځیرونه دگناه اچول
توبه وه ماته

زه د نېشې له پیچ و تابه اوښتم اوښتم
دا دمچکو له گرمیو تاوېده تاوېده
ماله سرکشو گناهونو سره
دې د ځوانۍ له هوسونو سره
له ډکو ډکو گیلاسونو سره
د وصل او مینې پر ښارونو چپاوونه وهل
حیا ویده وه

دا په مستۍ کې زماله غېږې رنگېده رنگېده
زه په سینونو دگناه کې دوبېدم ډوبېدم
له تږیو تږیو ارمانونو سره
له ښکلو ښکلو عذابونو سره
دزلمیتوب له کړاوونو سره
د سباوون رڼا دستر پرده وچیرله
مینه رسوا شوه

د ارغوان سندره

دا د گلو امتحان دی
که په غرونو کې توفان دی
که د گلو ننداري ته
سر جګ کړی ارغوان دی
چې بل فکر او نوی ذوق
نوی شور او نوی شوق
زما په شعر کې نځېږي

د سينونو په نغمو کې
د بهار په ترانو کې
د عشاقو په سينو کې
د گلونو په څپو کې
نوی شور، نوی آواز
نوی طرز او نوی ساز
آسمانو ته پورته کېږي

په رگونو د زمان کې
د خيالونو په توفان کې
د اشعارو په عنوان کې
د ځوانانانو په ارمان کې
نوی خيال، نوی عنوان
سره لمبه د ارغوان
را تاوېږي او بلېږي

اشنا ته

هېر کړه آشنا دا تېر عمرونه هېر کړه
باده در نيسه تېر غمونه هېر کړه
کاروان دعمر اشنا
کله درېږي کله صبر کوي
پياله کړه پورته چې مهلت کم دی

بيا به ځواني وي خو بهار به نه وي
يا به بهار وي دزړه يار به نه وي
زه له دې عمره اشنا
سخت اند ېښمن يمه او ويره لرم
له دې ظالمه انتظار کم دی

مهلت دعمر يوه برېښناده برېښنا
يوه غمجنه شان خندا ده خندا
په دې خنداکې اشنا
يورپ لذت دی گوره لاړ نشي
چې افسوسونه بيا ثمر نلري

که زاهدان په سجاده ښه ښکاري
رندان بيخوده په باده ښه ښکاري
يوه گړۍ عقل اشنا
عذاب عذاب دی گوره پام کوه
چې افسوسونه بيا ثمر نلري

را ځه چې ځان له يو جهان کو پيدا
ځو لېوني او ځو مستان کو پيدا
سارا ته لاړ شوا شنا
هېر کو دا واړه بند يزونه هېر کو
په بدمستۍ کې ځو نارې و وهو

زړه مې سارا پسې ژړاوي کوي
زما تېر عمر ته ښېراوي کوي
راځه چې وزو اشنا
وېرېږم لاره دسارا بنده شي
جنون به ګرزي سر ګردان را پسې

د سالنګ ترانه

په لمـــــن د هند وکش کې
بیا د کار مـــــوزیک غرېږي
د مـــــا شین تر دوړو لاندې
د هیـــوادا انسان خوځیږي

د لته فکـــر د بقـــــــادی
ژوندی شوی په سالنګ کې
ما لیـــــد لې معجـــزې دي
د کا ر ګـــرو په کلنګ کې

غرونه غرونه به هـــوار شي
کار به وکـــــري ګلونه
سېل به مارشي سین به واوړي
طبیعت بـــه شي پـــه ملونه

علم او کار ســـره یو شوي
ما توي داسختې پـــر ښي
د سا لنګ له زړه نه با سي
د انسان د فکـــر کـــر ښي

هغوی چې نه هېرېږي

رحمن بابا:

خرقه پوش دی له شا هانو بې نیاز دی
سر تر پا یه حرا رت دی سوزو ساز دی
د خیال دباغ دگلو یوه وږمه ده
د جذبو په آسمانونو کې پروا ز دی

خوشحال ختک:

یو سېلاب دی چې له لوړو را روان دی
د پښتـــو او پښتنوالي قهـــــرمان دی
ټیټ یې مه بوله غورځنګ وربا ندې مکړه
پس له مرګه هم د تورې تـــرجمان دی

حمید ماشوخېل:

د پښتو د خـــــورې ژبې یکه تاز دی
په ا یجاد د رنګینیـــو کې ممتاز دی
په هر بیت کې نخولي دي خیالونه
د ده شعر، شعـــر مه بوله اعجاز دی

سم تګ

په سفر کې له کاروانه ســـره سم تګ
د پیـــړۍ په مقتضا قـــدم قـــدم تګ
کوم چې باسي توفاني بېړۍ له موجه
همدغه دی منتخب او محتـــرم تګ

بې موقع خندا

ما کتاب د تجـــــــربې کې دي لیدلي
دغـا فل په درما نـــــد ه لمبې ختلي
چا چې کړې بې موقع خوب و خندا ده
د برېښنا په شانې یوه خنـداکې تللي

د دنیا لار

چې دنیا ځي په هغه لار بـــــــه روان شي
په دې خپله لار به خپله ســــــر ګردان شي
خود سري به دې له غرو څخه غور ځار کړي
بیا په تېره څه حاصل چې پشیمـــــان شي

هندوکش ته

هندو کشـــه را روان کړه سېلاوونه
چې له توانه پورته شوي دي دردونه
داشیا دغرونو تا جه د ر نه جار شم
څنګه نه سوځي د تا پلې او ر ګونه

پټ خم

محتسب که هر څو چم داحتساب کړي
رند پو هېږي چې په زړه کې څه حساب کړي
په قبا کې يې پټ کــــړی خــــم دميـو
که په خــــوله هر څو وردونه دثواب کړي

دهرچا جهان

دا جهان که هر څو لوی او سورور دی
خو دفکـر تاخت و تاز ته يو بڅر دی
دغه يوه قطره شبنم هم ترې خلاص ندی
چاته او ښکه دشبنم، چا ته گوهــــــردی

دعا

ربـــــه را ولې توفــــان، توفــــان دکـار
نــــوی نسل او طبقــــــــــه د ابتکار
موږه ننګ ددې وطن که په دار جګ شو
آلـــوده بـــه شي په مــــوږه هغـــه دار

طلا

دا طلا چې هر سړی يې په ارمان دی
دا قاتل د شــرافت او د وجـدان دی
فلز نه دی استبداد دی تجـــاوز دی
د بشر په عواطفـــو کې شيطان دی

سرې ورځې

په سحر کې رڼايي د ژونـــــدون نشته
په ما ښام کې شور دعشق او جنون نشته
هـــــره ورځ له بلې ورځې ســـــړه کېږي
په سبا کې حــــــرارت د پـــــرون نشته

پښتنو ته

د نجات د قافلې له ســـــره هېـــــر شوې
دژوندون ساحل نه پټو ستر گو تېر شوې
د توفان په څپو ډوب شوې خوار پښتونه
د نفاق په سېلاوونو کې چا پېـر شوې

...

خدا يه ماله د کلام زور او تأثيـــر را
رسا عقل، پاک ايمان، قوي تدبير را
يا نجات د وښيارۍ له غمه راکړه
لېونی مې کړه ددې هنـر اکثير را

ظالم ته

جګ ولاړ به دا اسمان وي ته به نه يې
همدا راز به دا جهان وي ته به نه يې
خلقې به ستا له ظلمه حکايت کړي
آسوده به مظلومان وي ته بې نه يې

ابدي شرم

زه له مرگه نه وېرېږم، نـــه وېرېږم
د لطيفې سا په جال کې نه بندېږم
که د ځوانې معرکې پهلوان نشم
تر ابده به په خاورو کې شرمېږم

ژوند

ژونـــد دماتو او سپليو سلسله ده
يا د څــو خندا ژړاوو قافله ده
يوه برېښنا د عدم په تورکوگل کې
د سکون په اندامــو کې زلزله ده

شرق او غرب

شرق او غــرب سره يو بل ته اوښتلي
نه پـــوهېږم زمانې بيا څــه کرلي
را ته ښکاري د ياغي انسان له لاسه
دې دنيـا له تباهۍ ســـــره منلي

د پيسو مرض

هسي تللي يو د خپل ځان په غمو کې
د پيســو په تموج او توفـــانو کې
که انفاس د مسيحا راشي علاج ته
مبتلا به شي په فکر د پيســو کې

ژوندۍ خبره

او ښکې ندي چې له سترګو مې بهېږي
زړه مې ویلي شو له سترګو را تویېږي
که مې مړی یوه ژوندۍ خبره واوري
پس له مرګه به په خاورو کې نڅېږي

دژوند پهلوان

بې همت وي چې له ژونده شکایت کړي
لېونی وي چې د تېـــرو حکایت کـــړي
پهلوان وي چې د ژوند په معـــرکه کې
موانع لري کوي او حـــــرکت کړي

ستا دزلفوکړۍ

اې سپوږمیه ستا د حسن څه تأ ثیر دی
چې عالم دې دجلوې په دام کې ګیر دی
خیالات او الهامات او زما فکـــــــر
یوه کړۍ د ستا دزلفــو د ځنځیر دی

ستا نظر

بیا مې زړه دتا دزلفو په دام ګیـــــر شو
بیا مې خیال دتاپه حسن کې اسیر شو
ستا نظر چې زندګي تـــــرینه اوریږي
دلایق له سینې تېــــــر شـــو عالمګیر شو

بې خونده ژوند

زموږ بېرنګه او بې خوندﻩ ژوندبه تېر شي
سم ملت او نوی ژوند به را بر سېر شي
ولي هيڅکله به نشي چې له خلکو
زموږ بې رنګه او بې خوندﻩ ژوندون هېر شي

تا وده زېري

هغه وخت چې کام له خوبه را بيدار شي
د وطن غر او صحرا ګل و ګلزار شي
زما خاورو لره راوړئ تا وده زېري
ګوندې وي چې مې هډوکي په کرار شي

بې عشقه زړه

که په زړه کې عشق د کام او هيواد نه وي
يا په مټ کې توان توفيق د جهاد نه وي
هسي زړه او مټ د ګور چينجو ته ورکړئ
څو عامل د بې ننګي او فساد نه وي

لوی دښمن

که مې لاس په کان د زرو باندې بر شي
اور به بل کړم پې چې خاورې د ممر شي
تر هغو به د سکې بدي پرې نږدم
څو يې نوم نشان له ځمکې نه بهر شي

دعقل غلامي

يا دعقل لاره خوشې کړه مجنون شه
ددنيا لـــــه مشاغلو را بيـرون شه
يا دعقل غلامي ته ځــــان تيار کړه
سقرات شه، ارستو، افلاتــــون شه

دخان خر

کوم ملت چې خر دخان وي ملت نه دی
چې دخپل قوت نادان وي ملت نـــه دی
چې دنـــــورو له ويا لې شخـــه ويرېږي
او غــــافل دخپل توفــان وي ملت ندی

زما قلم

زما قلم به هله لوړ او محترم وي
چې دښمن د استبداد او د ستم وي
چې دخلکو د دردو رازونـــه وايي
خدا يه وي به چې هغه زما قلم وي

زوړ نظا م

مکتب غم، اداره غم، کلی او کــــــور غم
ميندې غم، پلرونه غم، نيايي او ترور غـــم
د زاړه نظام له ظلم او لــــــه فساده
په وطن باندې را گرزي کور په کور غم

انقلاب ته

رب دې راوله اې پلاره انقلابه
اې زموږ عالي مکتبه اې کتـــابه
دا وطن په ظلم هسې خراب شـوی
چې فاسد دی له یوششه تر تهدابه

انقلابي سر

سر هغــه دی چې په اور دانقـــلاب کې
په لمبو کې ، په توفان کې، په سېلاب کې
دمـــــزدور او د بزگــــر د حق لپاره
ځړېدلی وي ددار په ســره تناب کې

نن او پرون

د نن اوښکې د سبا ورځې توفان دی
د نن طفل د را تلونکي پهلـوان دی
د دنیا په زور غـــــره نشي حاکمه
ستاجهان سبا د بل سړي جهـا ن دی

انسان ته

هلکتوب په لوست او لیک کې درنه تېر شو
په ځوانۍ کې حرص د مال درنه چاپېر شو
په زړښت کې سمه شمه د سهـــا ر يې
څوک چې زوړ شو ناتوان، چې مړ شو هېر شو

د قربانۍ ځای

په کوم ځای کې چې دعلم ډیوه بل شي
یا د فکر لمبه وخوځي جل بل شي
د پتنګ په شانې ځان تربنه قربان کړه
چې سینا دې له ایرو څخه خجل شي

ځوان او زوړ

ځوان هغه وي چې دځوان فکر خاوند وي
نه هغـــــه چې د اوهامو په دام بند وي
سل ځوانان دې تر هغه زاړه قربان شي
چې خاوند دنوي رنګ اونوي خوند وي

له ځوان څخه ګیله

ځوانه ډېر ډېر ګیله من یم ستا له کاره
ستا له فکره، ستاله پوهې، ستاله ډاره
په نغمو کې دې د ژوند سندره نشته
کام ته نه شې پوهولای سمه لاره

پا څېږه زلمیه

ستا په مخ باندې جهان ګل و ګلزار دی
ستا په مټ د ژونـــــدانه دار ومدار دی
دغفلت له خوبــــــه پا څېږه زلمیــــــــه
چې جهـــان دې دجلوې په انتظار دی

دوطن ځوان

هغه ځوان چې د وطن په درد سوځېږي
که سل ځله پر مخ لوېږي پورته کېږي
ما ترې زر ځله قربان او صد قه کړې
چې د مرگ په پوله نا ست دی لا خوځيږي

فرعون ته موسا

ظالمان که فرعونان وي ته موسا شه
دناتوان او دمظلوم د لاس عصا شه
سر کشان که په نشتر زړونه زخمي کا
ته ملهم او د زخمي د زړه دوا شه

د ځوانې عقيدې پهلوان

نه په ځوان عقيده من يم نه په زوړ
نه په لوڅ او نه په وږي ، نه په موړ
چې د ځوانې عقيدې پهلوان ته وي
پسې نه گرزم که گرم وي که سوړ

له خلکو سره يو ځای

ځوانه ځان لپاره ژوند څه ژوندون نه دی
گوره پام کړه دا سبا دی پرون نه دی
څو د خلکو په غمونو کباب نه شي
هغه تيره د سارا ده ، لړمون نه دی

ربنتونی ځوان

ځوا ن هغــه دی چې فا تح له دنيا تېر شي
نه هغــــــه چې په دامونو کې چا پېر شي
چې کړه وړه يې يا د ګا رونه شي تا ريخ ته
نه هغـــــــــه چې له پيړيو څخه هېر شي

اروپايي شاعران

اروپايي شاعران

له څه مودې رادورې مې غوښتل له اروپايي شعرونو سره دځوانو پښتنو شاعرانو او ليکوالو د بلدولو لپاره د اروپايي شاعرانو ځيني شعرونه په پښتو شعر ترجمه کړم مگر د وخت تنگسيا دا هيله وځنډوله .اوله شپږو مياشتو راپه دېخوا ددې هيلې د پوره کولو شونتيا لاس ته راغله او مادغه کار پيل کړ او اروپايي شعرونه مې لکه د هغوی اصل پښتو ته را واړول . ددې زيار د لومړنۍ نمونې په ډول مې د « پوشکين »، «لرمنتوف » او« پتوفي» څو شعرونه د دوی له لنډې پېژندگلوۍ سره په همدې دفتر کې وړاندي کړل . البته ښيلې ژبې حتی يوه وا حده ژبه هم چې کله په متفاوتو فرهنگونو کې سره جلا شوې وي ، تر عامو اشترا کوتو ور هغه خوا ، خپلې ځانگړې او جلا مقولې اصطلاحات او فر هنگي احکام لري چې له نورو ژبو سره د هنري راکړو ورکړو او دژباړلو او راژباړلو په چاره کې ستونځې رامنځ ته کوي او حتی کله دغه راکړه ورکړه ناشوني کوي او هغه متل رښتونی کېږي چې وايي :« د شعر ژباړونکی خاین دی.» ما د ژباړل شويو شعرونو د وزن او غاړه ايزې ځانگړتيا او دقافيو درعايت لپاره کله يو لفظ يا جمله په ژباړل شوي متن باندې زياته کړې ده خو ددې لپاره چې دترجمې امانت رعايت شي هغه مې په قوسونو کې دننه راوستي دي تر څو اصلي متن بې درکه نشي .

د پتوفي له «غروب » او د لرمانتوف « دژوند جام » نه پرته ، په نورو ټولو شعرونو کې د هغوی د وزن، قافيې او سندريز آهنگ اصالت ساتل شوي دي او بې له هر راز فني تصرف څخه ، د خپلو ژبو په اصلي رنگ کې پښتو ته را اړول شوي دي .

الکسا ندر سرگیویچ پوشکین

ستر روسی شا عر الکسا ندر سر گیویچ پوشکین د ۱۷۹۹ کال د جون د میا شتې په شپږمه نېټه په مسکو کې زېږېد لی دی . خپل لومړني شعر یې له لومړنۍ زده کړې وروسته ، په لېسه کې ووا یه . له زده کړې ورو سته دبا ند ینیو چا رو په وزارت کې په کا ر بو خت شو ، خو خپل ټول وخت یې په ا د بیا تو تېر کړ . په ۱۸۲۰ م کال کې د «روسلا ن او لودمیلا» خپرېدو ډېر شهرت ور کړ.پو شکین لا زده کوونکی و چې انقلابي ټو لنې ته نیږدې شو او ددې ټو لنې مفکورو دده په ټولو آثا رو اغېزه وکــــړه . پوشکین دخپلو څر ګندو انتقادونو له کبله یو ځل د روسیې جنوب ته او بل ځلي یوه کلي ته تبعید شو .

په ۱۸۲۵ م کې د روس نظا مي افسرا نو یو نا کام بغاوت وکړ . ددې بغاوت څخه وروسته تزاري حکومت غوښتل پو شکین خپلې خوا ته جلب کړي نو له تبعید څخه یې بېرته را وغوښت خو پو شکین د پا څون دمفکورو پلوی پا تې شو او په دې وخت کې یې دا سې شعرونه ولیکل لکه « سایبېریا ته » چې په دې مجموعه کې چا پ شوی دی . له همدې کبله د روسیې دمر کز وا ک لرونکو ، له ده څخه کرکه کوله ، او دده په ښځه یې تو ولګاوه . ددې تورونو په نتیجه کې پوشکین د یوه فرانسوي نظا مي افسر سره چې د تزار په چو پړ کې و ، په مخا مخ دوئل کې ټپي شو او دوه ورځې وروسته مړ شو . دا واقعه د ۱۸۳۷ م کال د جنوري په ۲۷ پېښه شوه . پوشکین تر اوسه د روسیې دا دبیاتو تر ټولو ستر او محبوب شاعر پاتې شوی دی .

دپو شکین ستر آثار دا دي:

په شعر کې د « یو ګني اونیګین»منظوم نا ول ،« پولتا وا » ، «مسي

سپور»، او په نثر کې د «دبروسکي» او د «کپتان لور» ناولونه او نور.

انعکاس

کوم وخت چې په لوی ځنګله کې غږ دځناورو شي
یا چې د تـــرم له خولې نه پورته یـــوه خبـــــره شي
کوم وخت چې له وریځو نه، د تالندې آواز شي خور
یا دغـــونډۍ شا نه کومـــه پیغله په سنـــد رو شي
ته په تش ما حول کې بیا هغـه غبرګــــوې بېـــرته
هر چا ته د خپلې خـــــولې خرې اوروې بېرتـه

ته په غـــــږ دتالندې، بریښنــــا او د ځپـو خبر
ته په (ســـویو ستړو) آوازونـــو د شپنـــــو خبر
ته هـــر چا او هـــر شي ته، دده دغږ ځواب وایې
ته د تهولــــو واړو پـــه نغمـــو او ترانـــو خبــــر
تا ته مګـــر ځـــوک ستا د سنـدرو ځوا ب نه وايي
اې شـــاعره یو ستـــا د خبرو ځـــواب نـه وا يي

انچار

د سوځوونکو شغلو دلا ندې
په يوه وچه لويه ښېد يا کې
انچار ولاړ دی او پيره کاندي
يوا ځنی دی ټوله دنيا کې

دې ترږيو د ښتو دی زېړولی
د خپل غضب په ورځو شپو کې
بيا هرې څانګې تې څڅولي
زهر په پاڼو او په ريښو کې

بيا چې ګرمي شي ، دده له لښتو
او بځن زهرونه ورو ورو څڅېږي
خو چې ما ښام شي ، په پلنو دښتو
زهر شي غوټه را ټه ځلېږي

که يوه ګر زانده وريځ پيدا شي
او په دې ونه را وورېږي
د ونو څانګو نه، بيا جلا شي
د زهرو څاځکي ، په ريګ څڅېږي

۱ــ انچار: د زهرو ونه

شد يد يو امر يو سړي بل ته
ور کړ چې لاړ شه تر اې انچاره
هغه هم لاړ شو، دغه اجل ته
او بېرته راغی تر بل سهاره

د مرګ شوده يې راوړه ناچاره
هغه ظالم ته له مجبورۍ نه
پر مخ يې راغله د خولو لاره
حال يې خراب شو له کمزورۍ نه

پر خاورو پرېووت تر کېږدۍ لاندې
لکه چيچلی چې وي تورمار
پړ مخ د خاورو، په ځمکه باندې
په پښنو کې مړ شو دخپل سرکار

په هغو زهرو يې آلوده کړل
ظالم فاتح د مرګي غشي
بيا يې ملکو ته د ګاونډيانو
د مرګ لپاره هغه کړل خوشي

وريځ

اې دورک شوي توفان ، وروستۍ وروستۍ وريځې
همدا يوائې ته يې ، په شنه آسمان کې خوځې
ا يکې يوائې ته يې ، چې غمجن سيورى کوې
يوائې ته (په موږه) ، خوشحا له ورځ غموې

يوه شېبه مخ کې دې وه ، مخه دهسک پو ښلې
او هيبتنا کې برېښنا ، ته وې پـــــه غېږ نيولې
مبهمه تا لنده دې ، (زموږ پر سر) کوله
نا روغه ځمکه دې هم ، په باران ا و بوله

ورکه شه وخوځېږه ، اوس ستا موده پوره ده
توفان تري تم شوى ، او ځمکه هم تازه ده
د ونو پاڼو باندې ، باد تېروي لا سونه
او له آسمانه شړي ، د ستا خواره پوځونه

ک ... [(۱)]

هغه خوږه شپېه په یاد ده زما
چې مې نظر کې ته له ورا شولې
لکه یو ښکلی الوتونکی خیال
لکه یو پاک ښا یست پیدا شولې

ډېر وخت دتا لطیف آواز راته
د نامېندئ دغم اوږدو شپېو کې
ښکلی تصویر مې دې په خوب لیده
د شور ما شور په بدو اندېښنو کې

کلونه تلل، یاغي تېکان د توفان
یو او پنا کړل پخواني خوبونه
ستا آسما ني صورت او ښکلی آواز
هېر مې شول واړه (لکه هېر خوبونه)

په لري ځای کې ورو ورو ورځې زما
په تیاره بند کې تېرېد لې هدر
نه بل ژوندون، نه بل الهام، نه مینه
نه بل معبود ، اونه داو ښکو اثر

۱ ـ ک...: دشاعر دمعشوقې پټ نوم

روح ته مې وخت دوینښېدو راغلی
بیا مې نظر کې ته له ورا شولې
لکه یو ښکلی الوتونکی خیال
لکه یو پاک ښایست پیدا شولې

زړه مې رپېږي دخوښۍ له زوره
ځکه چې بیا یې شول ورک شوي پیدا
هم یې ژوندون، هم یې الهام، هم مینه
هم یې معبود، هم یې دمینې متا

سايبيريا ته

د سايبريا د ځمکې زړه کې
وساتئ خپل وياړ جن زغمونه
ستاسو غمجن کار به ورک نشي
نه د افکارو لوړ پروازونه

هيله چې خور ده د بدمرغيو
بيا به د ستاسي تياره زندان ته
سترزيري خپور کړي د خوشحاليو
مطلوب فرصت به راشي زمان کې

مينه دوستي به ستاسي مکان ته
له تيارو ورونو در ننه کيږي
لکه دا اوس چې ستاسو زندان ته
زما غږونه آزاد آزاد رسيږي

مات به شي واړه دا ځنځيرونه
بنديخانې به ړنگې شي بېرته
وابه ورئ ورو کې هر کليونه
ورونه به در کړي تورې په بېرته

د ژمي ماښام

آسمان تیاره دی واورین توفان کې
په ګردلوکې واورې څرخېږي
د ځناورو په شان سوران کي
د ماشومانو په څېر ژړېږي

کله یو وارې زوږ بام د پاسه
خورو وښو کې په شور ماشور شي
لکه ناوخته پردیس ناڅاپه
کړ کۍ وهي، غلط ترې لور شي

زموږ غریبه زړه جونګړه
سخته غمجنه، زیاته تیاره ده
پر تا زما بلړکۍ[(۱)] څه له
د کړکۍ مخ کې چوپیا خوره ده؟

یا د توفان کړیکچن آواز کې
یې سترې شوې، ستومانه شوې
یا د سنیو د څرخ آواز کې
د خوب په ټال یې پرېشانه شوې

---

۱ ــ بلړکۍ: د بلړۍ اسم تصغیر دی، له دې څخه دېوشکین مراد خپله دایي ده چې دی یې له

وړکتوبه روزلی او لوی کړی دی.

اې زما د خوارې ځوانۍ ملګرې
راځه چې وچښو دا شرابونه !!
راځه چې غم ته پیالې کړو سپرې
یو څه خوشال کړو خپل غمجن زړونه

ماته سندره د مرغه[۲] وایه
چې ځنګه او سي نورو ملکو کې
ماته سندره د پیغلو وایه
چې او به وړي سهار سپېدو کې

آسمان تیاره دی واورین توفان کې
په ګردلو کې واوري څرخېږي
د ځناورو په شان سوران کې
د ما شوما نو په څېر ژړېږي

اې زما د خوارې ځوانۍ ملګرې
راځه چې وچښو دا شرابونه
راځه چې غم ته پیالې کړو سپرې
یو څه خوشحال کړو خپل غمجن زړونه

۲ ــ یوه فلکلوري منظومه ا فسا نه ده چې دایي به د پوشکین په ما شومتوب کې د هغه

دويده كولو لپاره ورته ويله .

اريون [۱]

موږه ډېر وو په بېړۍ كې
دراوه ځينو با دبان
نورو گردو په يو آن
پارو گان وهل بېړۍ كې

زموږ پوخ رهبر چوپيا كې
پر سكان تكيه كوله
او بېړۍ يې چلوله
دسكوت په منتها كې

زه ډاډه ويسا په ځان
او سندرې مې ويلې
ما ږو گانو اورېدلې
نا څا پي راغی توفان

واړه مړه شول په بېړۍ كې
برېښنا، تالندې، توفان
زه مرموزه غزلخوان
يوائې واچولم زۍ كې

---

۱ ــ اريون : دلرغوني يونان يو شاعر دی. افسانه روايت كوي چې يو وخت سمندري غلو داريون په بېړۍ با ندې حمله وكړه ، يرغلگرو غوښتل چې اريون مړ كړي او مال يې ولوټي . اريون اجازه وا خيسته چې ترمرگ د مخه خپله سند ره وو وايي . اريون سندره وويله او ور پسې يې ځان سمندر ته وغورځاوه . سمندري « دلفين» چې داريون سندرې يې په زړه سخت اغېز كړی و، هغه يې وا خيست او د سمندرڅنډې ته يې ويوست . پو

شکين دا ترا نه د خپل وخت په ځانګړو پېښــو با ندې ليکلې او همغو ته پکې اشاره کوي.

بولـــــم تېرې تـــــــرانې
د(رانه) لمر وړانګو لاندې
ديوې لويې پر ښې وړاندې
وچـــــوم لندې چـــــامې

بندي

زه ترشايم د جالونو دلندې بنديخانې
تما شه کوم په بند کې ديوې ځوانې بانښې
ارمانجن اشنا له ورايه رپوي خپل وزرونه
خوځوي تر کړکۍ لاندې ډک له وينو خوراکونه

کله ووهي مشوکه، کله ما پلو ته ګوري
لکه فکر کې يې کوم شی (غلی) زما لپاره ښوري
په کتو او آوازونو اشارې کوي وما ته
غواړي ووايي چې: راشه والوزو لويې فضا ته

موږ آزاد مرغان يو وروره، راځه وخت دی چې تېرېږي
راځه والوزو اې ځای ته چې ترورېځو غر ښکارېږي
هغه ځای ته چې هغه کې دښنه بحر ناظران يو
هغه ځای ته چې يوائې زه او با دې خاوندان يو

دواکخ[1] ترانه

ولي دخوښۍ آواز چوپ شوی دی
اې دساتېرۍ سندرو پورته شئ!
تل دې نرمې پېغلې ځونې ښځې وي
موږ سره چې عشق درلودلی دی

ډک کړئ ګیلاسونه خپل
تل د ګیلاسونو ته
تېګو شرابونو ته
واچوئ ګوتګۍ خپلې

راشئ ګیلاسونه سره پورته کړو
تل دې وي شعرونه، تل دې عقل وي
و ځلېږه ته اې مقدس لمره!
هسې چې څراغ سپېدو ته ژېړ ښکاري
دغسې (غلط) او درواغجن حکمت
لمر دابدي عقل ته ژېړ ښکاري
خپله رڼا بایلي آخر ورکه شي
تل دې وي لمر، ترژمۍ دې ورکه شي!

۱ـ دلرغوني يو نان د شرابو او خوښۍ رب النوع.

پټه مينه

ما له تا سره لرله پټه مينه
ښايي مړه نه وي دا مينه زما په زړه کې
ځکه زه غواړم چې تا په تکليف نه کې
مګر تا به ربړوي نه دغه مينه

ما له تا سره لرله غلې مينه
په چوپيا کې په حسد او محجوبۍ کې
دا سي پا که حقيقي سپېڅلې مينه
خدای کړي نوريې ولري هومره پاکۍ کې

د یادګار څلی

مامجسمه ده جوړه کړې ځان د پاره
پټه به وانښه نه کړي هغې ته دولس لار
پورته اوچت شوی دسکندر تر یادګاره
څلی زما دکار

هیڅ وخت به مړ نشم ځکه روح به مې سندرو کې
زیاته تر بدن پاتي شي تل به وي ژوندئ
یو شاعر که پاتي وي ژوندی به یم خبرو کې
پر ټوله نړئ

لو یه روسیه به ګرده پیژني زما مقام
هر روسی ملت به زمانوم وړي په ښاغلي شان
واړه سلاوان او تنګوسان او فنلنډان په کام
کلمک دبیابان

ډېر وخت به له دې سببه یم په خلکو ګران
چې مې په خپل وخت کې ښه احساس که را بیدار
ظلم کې مې یاده آزادي کړه او احسان
ومې غوښت په خوار

باید د شاعر مهارت کېږدي خدای ته غاړه
نه له چا وډار شي نه پابند شي د احسان
ومني ستاینه وي که توروي په ځان دواړه

لر شي له نا دا ن .

لر ما نتوف

لرما نتوف(۱۸۴۱ م ـ ۱۸۱۴ م) دروسیې دادبیا تو تر ټولو لوړه روما نتیکه څېره ده . دې ستر ادبي نا بغه تش ۲٦ کاله ژوند وکړ او که چېرې ژوندی پا تي شوی وای خامخا به دیورپ په شاعرانو کې بې سا ري مقام ته اوچت شوی و .

لرما نتوف په ۱۸ کلنۍ کې د تزار گا رد ته دا خل شو او دعمر په ۲۲ کلنۍ کې یې «د شاعر مرگ» مشهور او بې ساري شعر د پوشکین د مر گ په منا سبت ولیکه او له همدې وخت څخه یې شهرت ته مخه کړه . دی دخپل وخت په رژیم باندې دانتقاد له کبله قفقاز ته تبعید شو . دی هم د پوشکین په شان په دوئل کې وږل شوی دی . دده په باره کې ویل شوي دي :«یو مرغه و چې له جنته راغلی و او په لنډه موده کې چې د قفس زنداني و، دا سي نارې یې وکړې چې له جنته را تلې.» ما دلته په چونغر کې دده شپږ شعرونه پښتو کړي دي .

د لرمنتوف تر ټولو مشهور آ ثا ر دا دي : په قصیدو کې « دیمون» او« مه څېرى» . په نا ولونو کې د« پېړۍ قهرما ن» او په منظومو ډرا مو کې « مسکو».

بادبان

يوائحي يو بادبان د سمندر په شنه غبار کې
له لرې متهکې ښکاري او سپينچک شاني ځلېږي
په لرې هيوادو کې څه تپوس کړي څه شی غواړي؟
په خپل ښکلي هيواد کې (خدازده) څه ترې پاته کېږي
بادونه غورهار کړي، څپې يوه په بله اوړي
شا تیر د باد له زوره یوه خوا بله خوا کږېږي
نه، نه ! په سمندر کې نېکمرغي نه لټوي
او نه له نېکمرغۍ نه چېرې تښتي یا پټېږي
تر سپين بادبان دلاندې شنې رڼې اوبه د بحر
له پاسه پې دلمر زرينې وړانګې پې خورېږي
ليکن ياغي باد بان د توفانو هوس لري
ممکن په توفانو کې نېکمرغي موندله کېږي

دژوند جا م

په پټو سترګو مو شونډان دژوند په جام ايښي
د هيلو لارکې مو ګا مونه ټول ناکام ايښي
موږه بې ځايه تودې اوښکې تو يوو وربا ندې
غمي د اوښکو مو د جام په زيو خام ايښي
د مرګ شپېه به زموږ له سترګو پرده لرې کاندې
وابه خلي ټول هغه چې موږ ځانله تمام ايښي
ها وخت به پوشو چې دژوند جام لا پخوا تش و
موږ غولېدلي وو کنه دی په رښتيا تش و

کمر

طلایي وربځې د لـــــو کمرې
په سینه باندې شپه کـــړله تېره
سبا د وخته لوبغاړې وربځـــه
په شنـــه آسمان کې لاړله لرې

په کمـــــر پاتې یولوند اثر شو
یکې یوائې هلتـــــــــه ولاړ و
په یوه ژور فکـــــــر کې لاړو
چوپې صحرا ته په ژړا ســـر شو

وریځې

د اسمان وريځو تل پر د ېسانو !
په شنه آسمان کې د در لـــــړونو
زما په شانې تل سر گـــــــردانو
له گران شمال نه جنــوب ته تلونو

ځوک شړي تاسي ؟ آيا تقدير دی؟
يا پټ حسد دی، يا ښکاره کېن دی؟
آيا د جرم دغه تأثير دی؟
يا د دوستانو تور او نا ورين دی؟

نه هسې نه ده ، پټو (۱) خپه کړئ
ستاسي نه حس شته او نه دردونه
همېش آزادې ، همېش سړې يئ
نه مو وطن شته ، نـــــه تبعيدونه

۱ ــ پتو يعنى پتيو او كروندو په خپلې بې بدلونه بڼې خپه كړئ او لېږد ته يې وهڅولئ. شاعرغواړي د شعر په ژبه ووا يي چې دلته ځمكه او ماحول يو رنګ او بې بدلونه دى.

• • • •

په لوخ غره كې دوحشي شمال دپاسه
ده ولاړه د كاج يكې يـــوا ځې ونـــه
له درانه خـــوبه كــږه وږه زنګېږي
د سپينكۍ واورې جامه وربا ندې پلنه

همېش خوب وينې چې لري په صحرا كې
هغې سيمې كې چې لمر ترينه راخېژي
پر تاوده كمـــــــره غمجنه او يوا ځي
د خــــــرما ښايسته ونه راشنه كېږي

. . . .

تش يو زه راځم پلو د لويې لار ته
په غبار کې د برينه لار ځليږي
چوپې دښتې غوږ نيولی خدای دربار ته
او يو ستـــــوری هغه بل سره غږيږي

د آسمان هر يو شی درونـد دی او متين دی
مځکه غلې ويده شوې شنه رڼا کې
مگر ولي زما زړه له غمو شين دی
ارماني يمه د کوم شي په سودا کې؟

د هيڅ شي منتظر نه يم له خپل ژونده
او نه کړم په هيڅ تېر شوي افسوسونه
آزادي غواړم يواځې له دې بنده
هېرېدو ته د ځان غواړمه خوبونه

مگر خوب، نه دلحد ساړه خوبونه
هسي خوب چې په کوگل کې مې رپيږي
د ژوند واړه طاقتـــــونه، قوتـــــونه
او سينه کې مې سا ښکته پورته کيږي

چې کرئ، شپه ورځ، دميني په باره کې
ماته وواييي يو خوږ آواز سندرې
شنه څېرئ مې سر د پاسه (په نخره کې)
سر راکوز کړي راسره وکړي خبرې

پتوفي

ساندور الکساندر پتوفي (۱۸۲۳ ـ ۱۸۴۹)د مجارستان تر ټولو لوی شاعر دی او تش ۲۶ کاله ژوندی پاتې کړی دی. پتوفي نه يوازې يو ستر شاعر بلکې د مجارستان يو ستر ملي اتل هم دی.

غروب

لمر لکه مراوی گل د ځمکې په لور
سر ټیټوي او ښکته کېږي پسې
دده له سره او طلایي جام څخه
ورو ورو د نور پانې تویېږي پسې
ددنیا گی له شوره ډکه ورځه
ورو ما ښامېږي او چو پېږي پسې
په دې ما ښام کې دناقوس شرنگهار
غوږ ته له لري رارسېږي پسې
دا څه زړه وړونکې آسماني نغمه ده
چې له دې ستورې را بهېږي پسې
له هغه لري ښایسته ستورې !!
له اې آزاده وارسته ستوري !!

يا دونه :

د پوشكين او لرمانتوف شعرونه د افغانستان را ديو د روسي تر جمان او سلاكار
« ا يگور سوچنكو » په مرسته او زيار پښتو شوي او مؤثق شوي دي ، كه څه هم هغه اوس پور پربكړى او هغې نړۍ ته تللى دى خو زه د ژوند تر پايه دهغه ددغه احسان منونكى يم.